



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رشوت او قضاوت


الحاج پروفیسور دکتور قاضي حفیظ الله نباد جبارخېل

www.melitahrik.com
0777 400 116

۱۳۹۳ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library





www.melitahrik.com
0777 400 116

## د کتاب پېژندنه :

د کتاب نوم: رشوت او قضاوت
لیکوال: الحاج پروفیسور دکتور قاضي حفیظ الله بناد جبارخېل
خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه
د خپرندوی شمېره: (۸)
کمپوز: ظفر اقبال
پښتی ډیزاین :فیاض حمید
د چاپ شمېر: ۱۰۰۰
د چاپ کال:۱۳۹۳ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالـــۍ

دا لیکنې خپلې د ژوند سببي مور او زما د علم پال په اسلامي علومو پوه استاد پلار ته ډالۍ کوم، چې زه یې په دیني علم روزلی او هغه ته هڅولی یم، ده ته لوړې درجې غواړم او دعا کوم، چې د الله تعالی رضا زمونږ د ټولو مسلمانانو نصیب شي.

الحاج پروفیسور ډاکټر قاضي حفیظ الله ښاد
جبارخیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک



| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | الف |
| ۲ | له بېرو څان ساتنه | ۱ |
| ۳ | رشوت | ۲۵ |
| ۴ | د رشوت پراخه معنی | ۲۶ |
| ۵ | د رشوت لغوي معنی | ۲۶ |
| ۶ | د رشوت اصطلاحي معنی | ۲۸ |
| ۷ | قضاوت | ۳۳ |
| ۸ | د قضا شرعي حکم | ۳۴ |
| ۹ | قضا ته اړتیا کې حکمت | ۳۶ |
| ۱۰ | د قضا د مشروعیت غرض او هدف | ۳۸ |
| ۱۱ | د قاضي ټاکل او د قضا د منصب منل | ۴۰ |
| ۱۲ | د قضاوت شرطونه | ۴۰ |
| ۱۳ | فساد کې قضایي عوامل | ۴۲ |
| ۱۴ | رشوت ته د مخ کولو سببونه | ۴۴ |
| ۱۵ | د قضایي فساد منفي اثرات | ۴۶ |
| ۱۶ | د رشوت حکم | ۴۸ |
| ۱۸ | په قرآن کریم کې | ۴۸ |
| ۱۹ | په احادیثو کې | ۵۳ |
| ۲۰ | په اجماع کې | ۵۶ |
| ۲۱ | د رشوت ارکان | ۵۷ |
| ۲۲ | راشي | ۵۷ |
| ۲۳ | مرتشي | ۶۰ |



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲۴ | د رشوت مال | ۶۴ |
| ۲۵ | د رشوت د مال مالکیت او ضمان | ۶۶ |
| ۲۶ | د محاباتي بیع په ترخ کې رشوت | ۶۷ |
| ۲۷ | د رشوت ډولونه مالي او غیر مالي | ۷۱ |
| ۲۸ | د اهل سنت او جماعت له نظره د غیر مال رشوت | ۷۱ |
| ۲۹ | هدیه (د هدیه، مقصد او ډولونه یې) | ۷۳ |
| ۲۹ | د رشوت او مصانعې توپیر | ۷۵ |
| ۳۰ | د قضاوت اجره | ۷۷ |
| ۳۱ | ارتزاق - د قاضي د ارتزاق تعریف | ۷۸ |
| ۳۲ | د رزق او اجرت توپیر | ۷۸ |
| ۳۳ | د قاضي د ارتزاق حکم | ۷۹ |
| ۳۴ | د قاضي ارتزاق د اهل سنت فقه کې | ۸۱ |
| ۳۵ | د رشوت کرغېړن اثرات | ۸۲ |
| ۳۶ | د رشوت د گناه بررسي | ۸۵ |
| ۳۷ | د رشوت مخنیوی | ۸۶ |
| ۳۸ | د رشوت سزا | ۸۹ |

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریک له اساسي څانګو څخه یوه اساسي څانګه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاریخي، ملي، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل د دې څانګې نورې دندې دي.

د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم د دې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریک خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي، نو د دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټک کړي دي. تاریخي ورځې یې نمانځلې، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړې. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.

د تحریک دې څانګې د تحریک د عمومي هدفونو په رڼا کې وټبیله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.

دا اثر (رشوت او قضاوت) چې ستاسو په لاس کې دی، ښاغلي (**دکتور قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل**) لیکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریک خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله

په درناوي

د افغانستان ملي تحریک

فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

الله تعالی د ګردو (ټولو) ستاینو څښتن دی. مونږ یې په زړه، ژبه، لیک او نورو ټولو وسایلو د زړه له کومې ستایو، عبادت یې کوو، په ذات، صفاتو او عباداتو کې ورسره د شریک له شریکولو په کلکه او ټینګه توګه ځانونه ژغورو او ده جل جلاله ته ترې پناه غواړو. لکه له شیطان او نورو ممنوعه څېزو چې پناه غواړو، حمد او ثنا یې ادا کوو، مونږ ته یې ښه او بد راښودلي او له هغې جملې یې د رشوت اخستلو له ګناه منع کړي یو. همدارنګه د ده رالېږلی استازی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم، په اصحابو یې او په مونږ ټول نر او ښځو مسلمانانو درود او سلام وایم. په خپلو مبارکو فرمودو کې د روښانه لارښوونو په ترڅ کې د رشوت په برخه کې لازم ارشادات او کافي توضیحات مونږ ته بیان کړي، چې له هغو ځینې نامي فقهاوو رحمهم الله د خپلو اجتهادو او استنباطو په توګه د رشوت احکام هم د نورو احکامو په څنګ کې خپلو مصنفاتو او تالیفاتو کې راپرېښي دي او له هغو د استفادې کولو په توګه قانون پوهانو د هر وخت له غوښتنو سره سم یې د رشوت مسئلو ته قوانینو کې ځای ورکړی دی، چې د هغو په استناد د رشوت په مجرمینو وروسته له څېړنو د مسلمانانو په اړونده محاکمو کې احکام صادرېږي. څرنګه، چې دې برخه کې کوم ځانګړی کتاب د پښتو په ژبه ماته نه دی معلوم ځکه مې په دې کتاب د لیکلو پیل وکړ. له الله تعالی جل جلاله ځینې غواړم، چې د ده په قوت راکولو او توفیق راښلو په توګه د رشوت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوند هر اړخیز معلومات په کې راولم، چې ښاغلي لوستونکي یې د دې کتاب په مطالعه د رشوت د مسئلو په برخه کې قناعت حاصل شي او د نورو کتابونو کتلو او لټولو ته یې اړتیا پیدا نه شي. په دې کتاب کې د رشوت په برخه کې، چې معلومات مو له مختلفو او معتبرو کتابونو او مجلو راټول کړي، د لړ لیک په مخ کې ښودل شوي دي. نو د دې کتاب ګران لوستونکي د ذکر شوي مخ په لوستلو خپل مطلب پیدا کولای شي. دا دي د دې کتاب مطالب، چې ستاسو درنو مینه والو ته په ډېر درناوي وړاندې کېږي او ستاسې په کتلو او پاڼو اړولو یې د رشوت په برخه کې هر مطلب په مخه درته راځي؛ نو دعا راته وکړئ، چې زما دغه د خدای تعالی د رضا لپاره خالص لیکل ومنې. له رشوت اخستلو مو وساتي او زما مور او پلار، نیکونه، اولادونه، استاذان او حق لرونکي ټول نر او ښځې مسلمانان او مسلمانانې وبښي.

لا حول و لا قوة الا بالله العلی العظیم.

ډاکټر ښاد

www.milltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له رشوت څخه نفرت

پروفیسور ډاکټر قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل د اروانښاد عبدالحیکم خان (جدي، ۱۳۵۲ ل.هـ کال مړ) زوی، د غلام محي الدین خان لمسی، د محمد عظیم خان کړوسی، هغه زوی د رحمت خان زوی د احمد خان په خټه جبارخېل د ننگرهار ولایت د غلجايي حصارک ولسوالۍ د ناور کلي عظیم خېلو کې د علم او پوهې کورنۍ کې اغلباً په دوشنبه د کمکي اختر په میاشت کال ۱۳۱۰ ل.هـ کې د پسرلي اولو شپو دنیا ته سترگې غړولي. مور یې باضغه (ببو) د ملک محمد زمان خان لور د کوز سیاب اوسیدونکې په خټه جبارخېله وه. بل زوی یې نه درلود، یوه لور یې (بي بي گله) شوې وه، چې ورکتوب کې په حق رسیدلې وه. پلار مې مولانا عبدالحکیم خان دیني عالم د چکنور ملا صاحب مرید، خطیب او مدرس و طالبان پرې اوسیدل، بې زما له مور یې درې مایني نورې هم وې. یوه لیلی د آدم خان لور په خټه جبارخېله د ناور خواجه بار بابا زیارت تر شا د لوگر لام اوسېدونکې وه او زما له کشر تره غلام صدیق کونډه شوې وه. له هغې یې اولاد نه دی پاتې. هغه او زما مور یې دواړه کونډې په نکاح کړې وې او دوه نورې یې پېغلې کړې وې، چې یوه گلانۍ د ملا رمضان لور په خټه خروټې او د ناور د ملایانو د کلي اوسېدونکې وه. له هغې یې هم اولاد ونه شو. څلورمه یې بې نظیره د افضل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور په خټه جبارخېله د ناور د کلي اوسېدونکې ده. درې زامن (عبدالعلیم، عبدالرحیم، عبدالنعیم او درې لورګانې ګل نظیره ګل منیره، شیرین بي بي) ترې پاتې دي ټولو ودونه کړي او خپلې کورنۍ یې جوړې کړي دي.

ما د خپلې ذکر شوې مور په غېږ کې د وړوکتوب نازولې شپې ورځې تېرې کړي او د نوموړې پلار روزنه مې اخیستې. کلمه، لمونځ، امنت بالله ګانې مې له دوی حفظ (یاد) کړي. پښتو خبرې مې ترې زده کړي، د ناستې، ملاستې، خبرو او نور آداب یې راښودلي دي. اودس، د قرآن مجید ناظره، د یاسین او سوره الملک او نورو سورتونو حفظ مې له ده کړی. همدارنګه د فقه او فارسي ادبیاتو کتابونه، خلاصه، قدوري، کنز، منیة المصلی، پنج کنج، تحفة النصایح، ګلستان شرح الیاس مې ترې ویلي. خط او حساب یې راښودلی، د غلجایي حصارک لومړنی ښوونځی، (دارالعلوم شرعیه) مدرسه اود (د شرعیاتو پوهنځی) یې پغمان کې په لیلیه ډول راباندې ویلی دی.

نو ما د مشر تره خانجان له وفات وروسته یې دغه کونډه بس بي بي د سلیمان شاه لور د ناور اوسېدونکې په خټه جبارخېله سره مې هغه مهال د نکاح قسمت وشو، چې زه د غلجایي حصارک د لومړني ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم. له هغې مې اوس دوه زامن پوهنمل عزیز الله حصاري او قاضي حسیب الله او دوه لورګانې بي بي لمره او بي بي دلبره پاتې دي. هغه چې د جمعې په ورځ، چې د عاشورا ورځې سره موافقه وه په ۱۳۲۳ هـ . ش کال په حق ورسېده. بیا مې له بي بي زیتون (ضیاء ګل) د سید محمد طاهر (بینا) لور سره د واده نصیب شو، چې په خټه سادات او د ننګرهار د چپرهار ولسوالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بانډې د کلي اوسېدونکې وه. د هغې هم دوه زامن حسين الله د آريانا پوهنتون د طب پوهنځي محصل او احسن الله (تحسين) د دولسم ټولګي زده کړی او يوه لور د څوارلسم ټولګي د ابن سينا دارالمعلمين فارغ التحصيله پاتې دي. دا ښځه هم په جمعه د سختې ناروغۍ له کبله په حق ورسېده او خپلې پلارنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شوه.
له کابل د شرعياتو پوهنځي له فراغت نه پس زه استاذانو د استاذ په توګه خوښ کړی وم، خو د عدليې وزارت ته، چې کوم لست کې زما نوم معرفي شوی و هغه وزارت د خپل ضرورت له امله ښېرته پوهنتون ته پرې نه ښودم او د ننګرهار د خوږيانو ولسوالۍ ته يې د لومړي مغلني په توګه وټاکلم د دې وزارت او داخله چارو د وزارت امور يو وزير سيد عبدالله پرمخ بېول.
څرنګه، چې زه يوه علمي او تصوفي کورنۍ کې روزل شوی سړی وم له درواغو، خيانت، حرامو او ناوړه خويو مې نفرت درلود او پلار مې هم راته فرمايلي وو، چې قضا عبادت دی په اوداسه چوکۍ باندې کښېنه ورنه پاڅېږه. ږيره ولره، پګړۍ په سر کوه، لمونځ په جمعه ورکوه، د جمعې او اخترو د لمونځو امامت کوه، رشوت او حرام مه خوره، عدالت له لاسه مه ورکوه، د اقتصاد د پياوړتيا لپاره دې يوه غوا، د لاندې پسه (مړ) او د خوراک غله زه له کوره درلېږم، خو ته د چا کوم څيز ته زړه ښه نه کړې. يو متقي پاک نفسي قاضي اوسه، ما هم په همدې عزم له رشوت سخته کرکه کوله، له رشوت سره مې په منبر، اخبارو، کانفرانسو، غونډو او هر ځای کې جدي مجادله او مقابله کوله. مطالعه،ليکوالي، ترجمې او تاليفات مې کول،

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشعار مې په پښتو، دري او عربي ويل، ورځپاڼو او مجلو کې به خپرېدل. کوم وخت، چې له خوربيانو د هلمند ولايت د نوزاد د ابتدائيه محکمې ته د قاضي په توګه او له هغه ځای د عدليې وزارت ته د مفتش په توګه بيا د فارياب ولايت د شيرين تګاب د محکمې د قاضي په توګه، هغې پسې د لوګر د ازرې د ولسوالۍ د قاضي په حيث، هغې پسې د فراه ولايت د مرافعې د قاضي په توګه وټاکل شولم. هلته مې د عربي اشعار خپرېدل د سبستان ورځ پاڼه کې د کابل د شرعياتو پوهنځي مصري استاذانو ته د هغه پوهنځي رئيس پوهاند عبدالسلام عظيمي چې اوس د افغانستان د اسلامي جمهوريت د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات دی ښودلي وو هغوی غوښتنه کړې وه، چې ما د استاذ په توګه وغواړي، عظيمي صاحب وغوښتم خو د هغه وخت سترې محکمې موافقه ونه کړه. بيا د فراه د قلعه کاه د محکمې د قاضي په توګه، هغې پسې د کابل د سروبي د قاضي په توګه هغې پسې د ميدان وردګو د ولايت د ښاري قاضي په توګه، بيا د ارګون د محکمې د نائب رئيس په حيث، هغې پسې د تميز د محکمې د قاضي په توګه بيا د قندهار د محکمې د قاضي په توګه، بيا د زابل د محکمې نائب په حيث وټاکل شوم. له دې ځای مې د تعليم او تربيې وزارت ته د ديني مدارسو عالي رياست ته موافقه واخيسته د عربي دارالعلوم بيا د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه مدرسه کې د استاذ په توګه وټاکل شوم. بيا د ديني مدارسو عالي رياست کې د مسلکي غړي، هغه پسې د تاليف او ترجمې رياست کې د ديني تعليماتو په ديپارتمنت کې مقرر شوم.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښوونې او روزنې له وزارت مې د لوړزده کړو وزارت ته د اسلامي علومو پوهنتون د اسلامي علومو د څېړنو مرکز د تفسیر او احادیثو دیپارتمنت ته موافقه واخیسته. هغه مرکز بیا د حج او اوقافو وزارت پورې وتړل شو. له هغه ځایه د خیبر پښتونخوا پېښور ته مهاجر شوم هلته له اسلامي پوهنتون، سید جمال الدین پوهنتون، ابدالي پوهنتون او بالاخره افغان پوهنتون د استاذ او شرعیاتو پوهنځیو رئیس او د ثقافت د دیپارتمنتو د امر په توګه لګیا وم، څو چې افغان پوهنتون د افغانستان خوست ولایت ته انتقال شو. زه هم ورسره لاړم او هلته د شرعیاتو، حقوقو، اداره او تجارت پوهنځیو د رئیس په توګه وټاکل شوم. له درې کالو وروسته له خوست پوهنتون څینې په اسلامیاتو کې د دوکتورا Ph.D تحصیل لپاره د پېښور یونیورسټۍ (پوهنتون) ته معرفي شوم. هلته لاړم څرنګه، چې د مخه مې هلته د هجرت په وخت کې ماستري او ایم فیل تعلیمات سرته رسولي و نو په اسلامیاتو کې مې Ph.D تحصیلات هم سرته ورسول. د فراغت مکتوب مې چې واخیست دی وخت کې د ستره محکمې د مفتش په توګه وټاکل شوم. څو، چې په ۱۳۸۸ کال ۸ د میزان په میاشت کې تقاعد ته سوق شوم.

زده کړې: له هجرت مخکې مې ابتدایي ښوونځی غلجایي حصارک کې سرته ورساوو. همصنفیان مې پاینده محمد، شېر محمد، سید حبیب، عبدالغفور، محمد حسن، سرمیر، ظریف خان، عبدالرؤف، فضل رحمن او داسې نور سر معلم مو ښایسته ګل خان بیا غلام اکبر خان او معلمان مو حافظ محمد الف خان، مومن خان، ایوب خان، محمد بشیر خان، سید

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد خان او داسې نورو، د درس ځای مو د میا صاحب جومات، د حمزه خان جومات، د شاه محمد قلعه او د تاڼي جومات وو.

خاطرې: په فارسي او پښتو مې اشعار جوړول، د ډاکټر شکایتونه د جمعه خان شکایت، اوربل کیسه، د شپې قیصې، د بالاپوش رانیول، د قلم رانیول، درگي هندو، د موټر راتگ حصارک ته او زمونږ منډې، لاسي ساعت مې جوړ کړی و، چوکۍ مې جوړه کړې وه، یو د ریاضي سوال په ټول صنف کې یوازې ما حل کړی و.

هغه داسې و: (۱۵) مسلمانان او (۱۵) هندوان ټول (۳۰) تنه په یوه کشتۍ کې له یوه بحر پورې وځي خو کشتۍ کې (۱۵) تنه ځاییږي ځکه چې کشتۍ (۱۵) تنه وړې شي، که نه کشتۍ غرقیږي. دوی په دې سلا شول، چې دوی (۳۰) تنه ټول قطار ودریږي وشمارل شي هر څوک، چې نهم وي هغه له قطار وویستل شي نو دوی دې داسې قطار شي، چې هر نهم سړی یې هندو وي څو (۱۵) هندوان طرح شي او (۱۵) مسلمانان کشتۍ کې له بحر پورې وبستل شي. بیا (۱۵) هندوان پورې وبستل شي. یوه ورځ وخت یې راکړ ما په کور کې د کاغذ په مخ ۳۰ ټکي کېښودل.

(م م م م ه ه ه ه ه م ه م م م ه م م ه ه م ه ه م ه ه ه م ه ه م ه)

په هر نهم ټکي مې (ه) ولیکله، چې (۱۵) هې گانې پوره شوې په نورو ټکو مې (م) ولیکه. دا ځواب استاد ټیک وباله او هغه په یوه بیت کې د هغه حل یاد کړی و.

او د ماشوموالي نورې خاطرې مې ډېرې دي، چې نومونه یې: ژرنده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرشره، پګړۍ، د شوتلې جنګ، د پښنې سوځېدل، خوځېدل، دانې، دړې لاندې کېدل، د ویالې یخ کې ننوتل، له ونې لوېدل، ناوې ته ورجګېدل، زرکه، د ټوپک ماشه، د برات شپې لمانځل، د منوکۍ شپه، د وندۍ غوښه، د کوټې اوبه، ورغۍ، دودځه – جارګي، چرګۍ، د پوختکې بچي، د شارو بچي، زبږکه، د تور بللې بچی، ټبغکه، اوږده لکۍ واله مرغۍ، په تبرزین غوڅېدل، په سبق وهل، لوبې کول، د پلار نصیحتونه، د مور نصیحتونه، د تره نصیحتونه، په مدرسه کې : مقالې، شعرونه، ترجمې، امران، استادان، همصنفیان، د نمبر او بریالیتوب پوښتنه، ناروغۍ، سپورت، کوپراتیف، غسل په یخه ویاله کې، زما د ریاضۍ پارچې نه د استاد استفاده، له کور نه مدرسې ته د کولالې، جګدلې او سروبي له لارې په موټرو کې، پیاده له محمد شاه خان اوښی، نور محمد تروزبي سره او له مدرسې کور ته تلل تر سروبي موټر کې او نور به پیاده تګ، د میا صاحب جماعت ته په مردانډنډ، کوچیانو سره، اوښ، کېږدۍ.

د شرعیاتو پوهنځي کې : مدیران، معاونان، همصنفیان، استادان، مبصران، د لیلیې سر معلمان، معلمان، ملازمان، تحویلداران، کتابداران، خیاط، ډاکټر، سلمانیان، اشپزان، چایداران، دوبیان، نان وایان، قصابان، لیلیه، کتابخانه، درسخانه، باغونه، مسجد.

ماستري : پېښور کې مې د اسلامیاتو په رشته کې د پراویټ ماستري د کابل د شرعیاتو په ډیپلوم سرته ورسوله او د هغې په بری لیک مې د اسلامیاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایم پېل وکړ او د هغې رساله مې د نصاب الاحتساب په مخطوط تحقیق وکړ او د ایم فېل ډګري مې ترلاسه کړه.

ایم فېل: د ایم فېل کانکور کې نږدې سل نفري پنځه قطارونه وو، چې دوه د هلکانو، دوه د نجونو او یو قطار د استاذانو وو. ټول پنځه سوه تنه اټکل کېدل له دې ټولو زما په شمول شپږ تنه ایم فېل ته ومنل شول، چې درې پاکستاني او درې تنه افغاني وو. له دې ټولو یو زه او بل افغاني سید عبدالعزیز د شینوارو او سپدونکی له بریالیتوب وروسته د رسالې په لیکلو او د پاکستان د حکومت له خوا په منلو موفق شولو. دې برخه کې د ډاکټر عبدالقادر سلیمان همکاري د یادونې او ستاینې وړ ده. (حیاه الله تعالی) دې تحصیل ته د افغانستان حکومت رسمي اجازه راکړه، خو مصارف یې زما په ذمه کړل.

د Ph.D تحصیل: کله چې د Ph.D دورې ته له څو کالو وروسته د محصلینو نیولو اعلان وشو په کانکور کې مو اشتراک وکړ. په هغه کې له بریالیتوب وروسته داخله راکړل شوه. دوه کاله پس، چې فارغ شوم ما ته د ملا علي قاري هروي د تفسیر انوار القرآن و اسرار الفرقان وروستۍ برخه له سبا تر آخر د الناس سورت پورې بحث او تحقیق راته منظور شول. ما هم پېل ورباندې وکړ. مشرِف مې ډاکټر محمد عمر د اسلامیاتو د څانګې ډاکتر راته ټاکل شوی دی چې کار یې ماشاء الله پرمخ تللی دی. الحمد لله رساله په دوه ټوکوکې د ۱۲۰۰ مخونو نه زیاته وه د هغې یو نقل انګلیستان او یو هندوستان او یو اسلام آباد ته واستول شول د هغو ځایو استاذانو تائید کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زه یې دوکتورا د عالمي شهادت نامې مستحق وګڼلم. د هغې مناقشه د پېښور پوهنتون په داسې شان وشوه چې د مخه یې ساری نه درلود او تفصیل جلا کتاب کې راغلی. زما د سن او عمر زیاتوالي کې د دکتورا فراغت جهاني ریکارډ قایم کړ او پخوانی د هند ریکارډ پرې مات شو په نړۍ واله سطحه پېښور او افغانستان راډیو، تلویزونو، انټرنیټ، مجلو او اخبارو کې یې زیاتې یادونې وشوې. تر دې اویا زره کالداري فیس راته معاف شو او افغان قونسل راته د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له لارې د اکاډمسین علمي رتبه او یو کور راته پیشنهاد کړ.

تالیفات : په دې وختو کې هغه دي چې د دې کتاب په آخر کې معرفي شوي او شمېر یې دوه سوه او اتیاوو پورې یاد شوی دی.

رتبې دولتي رتبه مې له ۹ پېل فوق رتبې پورې ۱۳۷۰ کال کې رسېدلې وه. ما فوق او د خارج رتبې تفاوت افغان پوهنتون کې راکړ شوی دی.

او علمي رتبه د اسلامي علومو د څېړنو مرکز کې د سر محقق په توګه راته منل شوی او د خوست پوهنتون کې د پوهاند علمي رتبه راته د دیپارتمنت پوهنځي او پوهنتون شوراګانو کې تصویب او د لوړو زده کړو وزارت ته خبر ورکړ شوی دی.

خو زما د تالیفاتو معیار د اکاډمسین علمي رتبې سره سمون لري.

زما د اشعارو اثر : هر شعر ځانګړی اثر لري او هره مقاله بیل بیان او خوند لري. له دې امله عربو ویلي دي : ځینې اشعار د جادو غوندې دي او ځینې بیانونه اثر کوونکي دي، خو زما له اشعارو، چې یو مې نوزاد کې لیکلی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطلع یې دا ده:

کال تېر شولو رانغلې نن اختر دی که راځې
سینګار مې د ښکلا ټول برابر دی که راځې

زما یو ماما، چې ځانګې نومېده په هغه یې داسې اثر وکړ، چې په اورېدو یې فوراً حرکت وکړ او کور ته لاړ.

بل شعر مې سترې محکمې ته لیکلی و، چې عنوان یې و (ای تلې) او مطلع یې وه:

ستا عدل ته حیران یم په تللو کې ای تلې
درانه دې کړه راښکته سپک دې بوتله پورته ولې؟

د هغه وخت په ستره محکمه یې سخت اثر کړی و، هغوی زما رتبه بې موجبه معطل کړې وه او د دې شعر له کبله یې نور هم سختې راسره کوله. څو، چې د ملت بابا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه هغه وخت بر حال و هغه مې په دې حادثه خبر کړی پس له هغه یې ترفیع راکړه.

رشوت: څرنګه، چې دا رساله د رشوت په برخه کې لیکل شوې او ما هم دولتي ځانګو کې دندې اجرا کړې د لوستونکو ذهن کې به تېرېږي، چې ته به څرنګه یې؟

ځواب کې ځان له رشوت ساتلو په هاند او هڅه ښه او پاک نه بولم، بلکې د څښتن تعالی په فضل رحم او ساتلو حال بیانوم. او هغه داسې، چې: وړوکتوب کې پر ما حیا دومره ډېره غالبه وه، چې زه ودو ته نه شوم تللی. ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل که واده ته لاړ شم خلک به وایي: هغه دی د ملا صاحب زوی واده ته راغلی دی، د دې خبرې په اورېدو به زه ودو ته نه تلم. همدارنګه له نامناسب درېدلو او نامناسبې خبرې له بیانولو به مې ځان ساته. ما ویل، چې لیدونکي او اوریدونکي به وایي : دا د ملا صاحب زوی دی سپینه پګړۍ یې په سر ده او کله مې، چې ډېره راغله د مدرسې طالب شوم بیا نو پر ما د ځان کنټرولولو عوامل نور هم زیات شول. د واده سیل مو نه کاوو، چې د ډول او داریا وهل او د سندرې ویل او د ښځو د آوازو اورېدل او د هغوی لیدل د پردي پټي یا له باغ بې اجازې استفاده د پردي مال اخیستل، دروغ، غیبت، کینه، مرورتیا، چغلي او له داسې نورو حرامو شیزونو مو په جدي توګه ځان ساته. په همدا ډول روزنه، چې لوړو زده کړو څخه فارغ شوم د عمل په ډګر کې مې دا عزم قصد کړی و، چې:

مونږ د شرعیاتو پوهنځي فارغان لومړی خاص د خاوند تعالی د فرضو ادا کولو (چې علم یې پر مونږ فرض کړی دی لپاره دیني او اسلامي علم کوو ورپسې د خپل ګران ولس چې د دوی په مالي مرستو روزل شوي یو خالصانه، صادقانه، عادلانه، په امانت دارۍ، ښه او خواږه سلوک له هر ډول بدې استفادې او له رشوت پاکې فضا کې به چوپړ او خدمت کوو. داسې خدمت لکه، چې پلار، مور، وروڼو او خویندو ته یې د قانون او شریعت په رڼا کې کوو څو پوه شي، چې دوی دا ډول زړه سوانده، عادل او مؤدب بچې هم لري، چې اوښکې یې پاکې او نارو ته یې په جار او قربان ځواب ووایي. نو په ۱۳۳۷ هـ. ل کال چې کابل د شرعیاتو له پوهنځي فارغ شوم د ننګرهار د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږیانو محکمه کې د لومړي مفتي په توګه وټاکل شوم. ما له رشوته ځخه په ټینګه ځان ساته.

خو ځار مو کاوو، چې د پیسو اخیستلو کار به څرنګه اجرا کېږي. هغه څه مې، چې ولیدل د ویلو نه دي خو د دفتر د محکمې، غړو کشرانو ته مې وویل: زه رشوت او د خلکو ازارولو او د هغو د کارونو ځنډولو سره مخالف یم. په خپله شپه او ورځ کار کوم او کوم کار، چې راوسپارل شي سرته یې رسوم او چې وګورم د چا کار ځنډیږي. هغه زه سرته رسوم. ما نظر لاندې ساتئ که ناجائز کار مې کاوو ما منع کړئ او تاسې، چې زما لاس لاندې نه یاستئ مسؤلیت مو خپل دی. باید ښه کارونه وکړئ او که کوم وخت په کفالت زما لاس لاندې وئ بیا مو رشوت قلماني او د خلکو سرګردانولو ته نه پرېږدم. زما شعار (تقوا او د عمل سرعت) دی همداسې مې وکړل. کوم کور کې چې زه اوسېدم هغه کلی بایزید خېل نومېده. علما او ډېر، علما برحال او هم متقاعد قضات او مفتیان په کې وو ټولو پنځه وخته لمونځ ما پسې په جمع ادا کاوو او د جمعې او اخترو لمونځونه به هم د خوږیانو د کړې د بازار پخواني جومات کې ما ورکول. په دې دوره کې مو د وثایقو، فیصلو لیکل او تحقیقاتو د دوسیو څېړل، نظریه ورکول زده کړل، چې د خاص او عامو په خولو کې ستاینه کېدله.

د رشوت په برخه کې: د چا په ترافیکي پېښې کې یو خان د واسطې په توګه حجرې ته راغی سپارښت یې وکړ او لاړ. زه چې له حجرې راوتلم ګورم زما په بوټو کې یې لوټونه ایښې دي. ما راوغوښت او په عزت مې هغه روپۍ ور رد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او ورته ومې ويل: داسې عدالت به درسره وشي لکه بل قاضي ته دې، چې روپۍ ورکړې وي. له فيصلې وروسته يې چې عادلانه کړنې وليدلې خوشحاله و. دا قصه او ستاينه به يې کوله.

بله قصه : په يوه ښځه د دوه تنو دعوه له کالو کالو محکمه کې پاتې وه خو ما چې د قاضي په غياب کفالتاً داير کړه د دواړو خواو قومونه مې له مدعيانو سره وغوښتل. ورته مې وويل يوه ښځه ده يوه سړي ته به د اثبات په صورت کې حکم کيږي. که تاسې پر ما د رشوت باطرفدارۍ ګمان لرئ. زه يې هم نه فيصله کوم او که پر ما باور لرئ، چې نه طرفداري کوم او نه رشوت اخلم. او بل دا ، چې مدعي بها ځمکه يا روپۍ نه ده ، چې نيم د يوه او نيم د بل شي او صلح په کې وشي. دواړو خواوو وويل: ستا صداقت پاک نفسي او بې طرفي د لمر غوندې ده فيصله وکړه. هر چا ته دې چې حکم وکړ هغه بل لوری تهمت نه دربانديې وايو او په مرافعه طلبۍ ته مه خفه کيږه. ما ورته وويل هغه ستاسې قانوني حق دی نو د فيصلې په دوران کې يو لوري په شاهدانو دعوی ثابته کړه. حکم ورته واورول شو ملامت لوری بې له کوم شکايت يا تهمت لګولو مرافعه طلبي وکړه. په خوشحالۍ او په خدای په امانۍ له محکمې ووتل: هماغه فيصله له مرافعې او تميز هم تائيد شوه. ټول ولس ته ثرګنده شوه، چې حق حقدار ته ورسيد.

د خوريانو له خاطرو : د محکمې ملازم ته ثو خبرې، د محرر قلمانه، د حسن کوچي توقيف او فيصله، د هاشم خېلو سرداران، مېمله کې د پېغلې حلالول د هغې د مېړه له خوا ، د سورلنډي چرګ، ليسه کې کانفرانس، د ملت د بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرکلی په سرما او د مېلمې بڼ کې چې برحال باچا و ، د نوزاد محکمې ته تبدیلۍ کې د خوړیانو جامع جومات کې د ټولو لمونځ کوونکو دعا.

نوزاد ته زما له همصنفي محترم قاضي عبدالواحد خان افغاني سره سفر، د هغه له پلار صاحب خان اکا سره لیدل کتل، د محکمې دندې د اشغال مراسم، اختر، د خاوې سفر، د واشېر سفر، د ښوونځي تاسیس، د محمد هاشم خان نورزي ورور د ملت د بابا یاور میلمستیا ، د ملک ولي جان د قتل فیصله ...

په نوزاد کې، چې ولسونه پوه شول ویل یې: داسې قاضي راغلی، چې رشوت نه اخلي؛ نو د محمد هاشم خان ورور، چې د د خدای بښلي اعلیحضرت محمد ظاهر شاه یاور وو ، ولسوال ته یې وویل : له قاضي سره زما مېلمستیا ته راشه! ولسوال ورته ویلي وو ، چې هغه خو د چا مېلمستیا ته نه ځي، د هاشم خان ورور یاور ورته ویلي و ، چې ما خپل ناظر ته یو لیک ورکړی و چې د چا سپارښت مې غوښتی و. هغه زما خط شیرلی و ناظر ته یې ویلي و زه خپل عدالت چلوم سپارښتنې ته اړتیا نشته. ته دغه قاضي په یوه چل درسره راوله! لنډه دا ، چې ولسوال د ښکار په نامه هغه کره بوتلم. گورم، چې هلته د عبدالرحیم خان د نوزاد د اوسېدونکی ، د روغتیا وزیر، د شورا وکیل او نور مخور ناست دي. د غرمې ډوډۍ کې یې د (خاگینه) په نوم غذا راکړه. بیا یې ما ته وویل: قاضي صاحب! زما په کابل کې له پاچا سره دنده ده کومه اړتیا مې درپورې نشته. د دې لپاره، چې رشوت نه اخلې ما خپل ناظر ته اجازه کړې ده ، چې په کال کې یو خروار غنم درکړي. د روغتیا ذکر شوی وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل: يو خروار غنم به زما ناظر ورکوي. فکر کوم، چې يوه وکيل هم دا ژمنه وکړه خو ما د دوی دا مرستې نه واخيستلې او نه مې ومنلې خو هلته مې کله داسې خوراکې څېز ونه ليدل، چې د کور په دروازه کې ايښودل شوی و هر څو مو چې د هغه د خاوند پوښتنه وکړه چا به نه ويل چې دا زما دی، مقصد ټول خلک پوه وو، چې قاضي پيسې نه اخلي او رشوت نه مني.

نوزاد کې له خاطرو يوه هم د ولسوال محمد يوسف له خوا د ملک امين الله د خاوې او سپډونکي په تفنگچه ويشتل و، چې زما حجره کې يې خطايې کې تفنگچه وار کړه او ملک امين الله په ورانه ولگيده. ټپي شو روغتون ته يووړل شو او روغ شو. د جماتونو جوړول د جمعې د لمونځو اجازه ورکول او داسې نور بازار کې د ساز او سرود او قيمار مخنيوی ...

د تفتيش په دوره کې، چې سيد شمس الدين مجروح د عدليې وزير او موسی شفيق يې معين و له رشوت سره يې زما نفرت احساس کړی وو نو دومره اعتماد يې پر ما درلود، چې د مهمو کړنو تفتيش ته يې زه ټاکلم او کله يې په ځانگړې توگه ځينې موضوعات راسپارل لکه د عبدالمحمد د پروان د حقوقو له امر تحقيقات همدارنگه ده پسې د عدليې بل وزير د فتوی د ځانگې تحقيقات، چې موسی شفيق يې مشري په غاړه درلوده او داسې نور.

له خاطرو څخه يې: زما د ترفيع مېلمستيا د مصر برس ته بلنه او زما ناروغي، چې مار چيچلی وم د ده خدای داد شريک کور، چې حاجي محمود جان سره مو په ۳۰ زره افغانۍ اخيستی و او (۱۲۰۰۰) افغانۍ په کې زما وې. څرنگه، چې بې نمرې و هغه مې نوموړي حاجي صاحب ته پرېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شرین تگاب ولسوالۍ کې مو له رشوت، قیمار مخنیوی اونۍ کې دوه ورځې د دولت آباد د محکمې کار کول او پس له تبدیلۍ د دواړو ولسوالیو د خلکو غوښتل او د هوټل مخې ته دغې لویې غونډې ته وینا کول او له هغو بخښنه غوښتل او الله پاماني کول او د ځینو ژړل له مهمو خاطرو ځینې دي او د اوزبکو او پښتنو ترمنځ د علانې محاکمو دائرول.

د ازرې ولسوالۍ کې د قوماندان په ځای د ولسوال تبدیلي او له هغه سره مناقشه بیانول ډېر وخت او لیکنې غواړي. له ولسوال سره د بندیانو او مرنډو ښځو خاطرې، چې موضوعګانې یې له ولسوال سره وې ځانګړي تشریحات لري، د غرو پیاده سفر، له کوچیانو سره کتنې، د ناصرو له ملک سره شپه تېروله، بله شپه د هغه له تربور کره تېرول او د دوی ترمنځ له ځینو رازو خبرېدل او د هغوی ترمنځ صلح کول هم یوه خاطره ده. په لارې د فراریانو په توګه زمونږ بدرګه کېدل. د عبدالمنان خبروال او د عبدالحکیم بنګله دیش د ادبي ویناوو یادول، د وکالت د دورې انتخابات، د کابل جاده کې د لاورۍ دروازې سره خطرناکو اشخاصو سره مخ کېدل.

فراه کې : په مقالو، اشعارو، پر منبر، کنفرانسونو او اخبارو کې رشوت سره مجادله روانه وه. د سیستان په خپرونه کې د رشوت له اشعارو یوه مطلع دا ده :

اخلمه رشوت قلماني نه مې رغېږي نه
وورکی په کې لوی شوم دا عادت زما هېرېږي نه
ګوره جبار خېل ته چې اوس ما سره غږېږي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلمه رشوت قلمانـــي نـــه مـــې رغېږي نـــه

او د مقالو عنوانونه : ماهر رشوت خور، خدای دې ورک کړه رشوت خوره، زوړ شوې او له رشوت لاس نه اخلې او داسې نور.

ټولو کې مهمه يې دا وه، چې د فراه د قضا او اجرائيه مشرانو وپتيله څو په دسيسه ما له فراه تبديل يا په هر ډول چې وي چپ کړي. هغه داسې، چې په سيستان کې زما د اسانه پښتو کتاب مسلسل چاپېده اشعار او مقالې په کې خپرېدلې خو د رشوت خبرې په هره پاڼه کې وې. په دې لړ کې يو مضمون و، عنوان يې (ماهر رشوت خور) و د محکمې رييس هغه مستوفي ته وښود، چې هغه د والي دنده په کفالت اجرا کوله. دی يې پوه کړ، چې دا مضمون جبارخېل ليکلی دی. زوړ شوی، امسا دې لاس کې ده، عينکې دې په سترګو ايښې، د بنس موټر کې سپرېږې بيا هم له رشوت لاس نه اخلې.

مار چې سوړې لره ورشي هلته سم شي
تـه د ګور غـاړې تـه لاړې نـه شوې سم

دا نښې ټولې مستوفي صاحب په تا کې دي نو جبار خېل ته ښودلی يې. زمونږ بې اجازې داسې کار کوي له مونږ خفه نه شې. مستوفي صاحب وويل: ما خو جبارخېل ته هيڅ نه دي ويلي ده ولې داسې کار کړی؟ د محکمې رئيس ورته ويلي دي : راځه، چې يوه چاره يې وکړو ځان ترې خلاص کړو او هغه دا، چې : دا اخبار مکتوبي مارشال شاه ولي خان د اعليحضرت تره تـه ولېږو او ورته وليکو، چې جبارخېل دا ډول په ذکر شويو الفاظو ستا سپکاوی کړی؟ مارشال شاه ولي خان ما ته ليک راواستاوو، چې (ما به تو چه کرده ام؟) او د

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت صدراعظم نور احمد اعتمادي، چې ولایت په ولایت یې سفر پېل کړ هغه ته یې دنده ورکړه، چې فراه کې دغه موضوع وڅېړي. هغه صدراعظم، چې ځو تنو وزیرانو او معینانو سره فراه ته ورسید، روښان د اطلاعاتو او کلتور وزارت معین هم ورسره و دوی د ذکر شوي صدراعظم په مېز دغه مضمون تر څېړنې لاندې ونیو. هغه کې یې دا جمله ولیدله (آیا هغه څوک، چې رشوت خواره نه نیسي په دې خوښ دي چې رشوت خواره دي. رشوت خوري او که د دوی موټر په دې خامه سرکونو نه شي راتللي چې ویې نیسي) نوویې پتیله چې دا مضمون محیطي دی. د فراه په مامورینو پورې لیکل شوی دی. کابل او شاه ولي خان پورې هیڅ اړه نه لري ځکه، چې خامه سړک خو فراه کې دی او د کابل سړک خو پاخه دي. دا راپور یې چې شاه ولي خان ته ورساو فوراً یې د مستوفي په تقاعد امر وکړ. ځاکن خپله ځا کې ولوېده. ما په هر ولایت کې سربېره د محکمې په کارو له معارف او اطلاعات او کلتور څانګو سره هم همکاري درلوده. خپرونې مې کولې او درسونه مې ورکول.

قلعه کاه ولسوالۍ کې سید داود والي خلکو ته وویل قاضي مو یو پاک سړی دی رشوت نه اخلي قلم او بڼه یې نوراني د احترام وړ دی. په تاسې یې هم قدر لازم دی. د تبدیلۍ په وخت دوه موټره د ولس مشران ولایت ته لاړل او زما دوباره مقرري یې وغوښتله. زه له تبدیلۍ وروسته بیا قلعه کاه ته لاړم. د جمعې لمونځ مې په خپل امامت ور ادا کړ او د خطبې په ترڅ کې مې ورته وویل: (نور قاضیان به چې تبدیل شول تاسې به ورپسې لاړئ او ورکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



روپۍ به مو ترې غوښتي خو ما چې له تاسې روپۍ او رشوت نه دی اخیستی، بلکې تاسې پسې راغلی یم، چې کومه وزه مې خرڅه کړې او بایسکل مې خرڅ کړی هغه کسان دې مسجد کې کیني او زما روپۍ دې راکړي) د قلعه کاه مشر عبدالروف خان د ولسي جرګې وکیل د فراه د اطلاعاتو او کلتور مدیر بلیغ، سناتور، د ټولې فراه خان.

خلکو تعجب کاوو ، چې رښتیا مونږ به له قاضیانو پیسې غوښتې او دا قاضي، چې پاک دی له مونږ یې څه نه دي اخیستي. څه شی به ترې وغواړه او د ده پورونه، چې په چا پاتې دي هغه دې ورکړي. مشهور زیارتونه یې امام زید ، سلطان صاحب، ملا عثمان، امام مهدي، د شګو ښوینده او نور وو.

سروبي کې : د سروبي له خاطرو د عدلیې وزیر صاحب عبدالمجید خان تېلفون او سپارښتنه وه، چې سپوږمۍ نومې بوډۍ ښځې د هغه کور ته لار موندلې وه او سروبي کې د دواړو ځمکې څنګ په څنګ وې. د سپوږمۍ زوم د برخې بېلېدو دعوی کړې وه. آخر مې د هغو معامله په صلح فیصله کړه. څرنګه، چې سروبي کې د ډاکټر ظاهر صدراعظم او د عبدالمجید خان وزیر عدلیه او نورو ځمکې وې له هرې وړې او غټې به خبرېدل. پوه وو، چې دا قاضي د رشوت اخستلو سړی نه دی. د اوکی ملا صاحب به جمات او نورو جماتو کې مو وار په وار د جمعې د لمانځه خطابت کړی او لازم نصایح مو ورته کول، چې رشوت چا ته ورنکړي. په خپلې محکمې اعتماد د عدالت ولری د صلح جرګې مې ورته جوړې کړې وې په هغو کې به یې چې اصلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه هغه به ما هم له شریعت سره سمې ورته وثايقو کې تائیدولې؛ نو د سروبي خلکو نازولم او په نیک نوم یې مشران ما یادوي.

مهمه خاطره: بندیانو خپلو منځو کې ویلي قاضي خو رشوت نه اخلي نو بې جزا مو نه پرېږدي. یو تن، چې د غویو په غلا متهم وو هغه مې چې د فیصلې لپاره راوغوښت محافظو عسکرو راوست. یو ناڅاپه یې د مېز په سر قرآن شریف راته کېښود وویل: د دې قرآن شریف په خاطر ما ته برائت راکړه. ما ورته وویل : تا ولې داسې کار وکړ؟ ده وویل: واسطه مې نه منې، رشوت نه اخلې بې له قرآن راوړلو بله چاره پاتې نه وه ځکه مې قرآن مجید درته راووړ، چې ما خوشی کړې؟ ما ورته وویل، چې رشوت نه اخلم او واسطه نه منم نو ظلم خو هم نه کوم که ته متهم یې دا قرآن وایې، چې غل د سزا وړ دی او که ملزم نه یې برائت به واخلې او که غل یې نو څرنګه برائت غواړې؟ بیا مې هم چې دی له محکمې رخصت کړ فکر مې وکړ، چې قرآن ته غرونه، سیندونه ټینګبدلای نه شي نو زه به څنګه ورته ټینګ شم. خاوند تعالی ته مې دعا وکړه، چې د دې سړي د برائت لار راته پیدا کړه او که مرافعه او تمیز کې آوازه شي، چې غل یې خوشی کړی هغو ځایو کې مې ته خلاص کړه. ما ستا په کتاب غیرت کړی، ته غیرتي یې په ما غیرت وکړه. هاغسې، چې ما کوم سهولت ورسره وکړ. عبدالبصیر خان د تمیز رییس صاحب وغوښتم. پوښتنه یې رانه وکړه او بېرته له پوښتنې منصرف شو. په دې ډول خاوند تعالی زه هم له لوړو مقامو وژغورلم.

حنان (نجار)، تورګل (ګلکار) ورونه، کټور (سپی) د قازانو بچی، د داود خان د باغ انار، د نور محمد شاه د ورور نور شا خان (د اعلیحضرت یاور) د بچو اقرار، د کور رانیول په کابل کې، د کور جوړول او حصارک کې د ژرندې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکانو آبادول، په حصارک کې له ملا صاحب جان، محمد شاه خان او امین الله خان څخه د باغ او ځمکې په لاس راوړل، له محمد جان د باغ رانیول او لالا جان سره یې بدلول.

ارګون کې: د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په خوب کې لیدل، چې د امیب او بواسیرو ناروغي مې درلودې، د ترکي راتګ د کوټوالۍ، زبږوک جهاد د یادونې وړ دی.

د کندهار محکمه کې: زما د ګړۍ د ورکېدلو تکل، د حاجي محمد مقصود سره لیدل.

زابل کې: په نیابت ټاکل کېدل، د پخواني نائب اکبر بندي کېدل، د مجاهدینو د پیغامو رارسېدل.

عربي دارالعلوم کې د حسیب الله شاملېدل او هلته په استاذۍ باندې زما مقررېدل، په امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مدرسه کې تدریس کول، د نجونو ټولګۍ او د (زبیدې) نمره خپلې څلورم نمرې باندې پاتې کېدل، د ورکې حاضرۍ پیدا کېدل، د یمن معین سره په عربي د استاذانو په نمایندګۍ د هرکلي کول او په یوه کنفرانس کې زما د جهادي شعر هرکلی د دواړو مدرسو لخوا بدرګه کېدل، چې مطلع یې ده:

راټول شئ وطنوالو، چې نن بیا ملي غورځنګ دی
راځئ، چې وخت د ننګ دی
دښمن مو په وطن کې کور په کور جوړ کړی جنګ دی
راځئ، چې وخت د ننګ دی

د مدرسو عالي ریاست کې د مسلکي غړي په توګه ټاکلو په وخت مې د پښتو ادبیاتو دوه ټوکه ۱۳-۱۴ ټولګیو ته او د اسلام تاریخ ۱۳ ټولګیو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپول او د فارسي ادبیاتو ۱۳ او ۱۴ ټولګیو ته لیکل او د اسلام تاریخ د دوه یم بخش د عباسیانو د دورې لیکل د یادونې وړ دي. مهمې خاطرې یې درسي کتابو خپرول، د کتابخانو منظمول او د امتحانو اخیستل د کابل د مدرسو د انضباط کنټرول.

د اسلامي علومو د پوهنتون د اسلامي علومو د څېړنو په مرکز کې د کتابو تالیف، تدریس او د سر محقق د علمي رتبې اخیستل مهمې خاطرې دي.

په علمي کانفرانسونو او سیمینارو کې ګډون او مقالې ورلېږل د هغو منل، اديټوريم کې یې لوستل او بیانول علمي کارونه. همدارنګه د علومو اکاډمۍ ته د مقالو لیکل، لوستل او د اسانه پښتو کتاب منظمول، وړاندې کول او د هیئت په نظر کې هغه مهم څرګندېدل مهم کارونه، معاش، کوپون، د ممتاز استاذ طلایي نشان ترلاسه کول د عالي تحصیلاتو د وزیر صرابي په لاس غاړه کې را اچول مهم کار و.

د روزې، پنځه بناء، حضرت یاد، توضیح المیراث، میراث نامې چاپول د زیات قدر وړ وو.

د هجرت تصمیم فامېل سره، د یوه زوی بیا بل زوی لېږل پېښور ته، د یوې لور او زوم لېږل او داسې د نورو خپلوانو استول پېښور ته زما جهادي دنده وه.

په پېښور کې ارباب روډ کې عزيز الله او حسیب الله سره اوسېدل او له هغوی کچه ګرۍ ته تلل د بي بي دلبرې لور ودېدل د اسلامي پوهنتون رئیس فیض الله کاکړ سره کار کول، تالیفات او څېړنې او د پېښور پوهنتون نه د ماسترۍ، ایم فیل او Ph.D لپاره معرفي کېدل او د هغو تحصیل سرته رسول مهم کارونه وو.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حسیب الله په غښتنه له کچه ګړۍ بېرته ارباب روډ کې د ده کور ته ورتلل، چې نوی یې اخیستی و. یوه سر کې به دی اوسیده او بل سر کې یې زه اوسېدم. هلته مو د حج د فریضې ادا کول هم په نصیب شول او حسیب الله هم لندن ته ولاړ. بیا د عارف کالونۍ کې د حسیب الله ماینې کور په کرایه ونیو. مونږ هم ورسره لاړو. هلته زما مېرمن ناروغه او په حق ورسېده. ماشومان را په غاړه شول. له هغه کور، کوروالا ووېستلو. عزیز الله د څو مودې لپاره د کور حجره راکړه، چې ما ورته نیولی و دغه کور او یوه کوټه مې ورسره شرط کړې وه چې هغه به زما وي مګر بیا هم له هغه کور ووېستل شوم نو نور احمد زوم کره لاړو څو موده وروسته له هغه ځای هم ووېستل شولو. کالي مو شاه کڅ ته ظریف د محمد ظاهر زوي کره واستول او مونږ کابل ته لاړو. هلته مو دنده واخیسته کالي مو یو څه په چکن یوړل او نور پاتې شول. کابل کې هم هغه ګډوډ شول زه یوازې د ماشومانو تعلیم ته متوجه شولم. حسین الله اوس د آریانا پوهنتون د طب محصل دی چې ګردیز ته نقل شو او دریم کال ته بریالی شوی دی او نرګس له دولسم فارغه ده دارالمعلمین نه هم فارغه شوه او تحسین الله د دولسم ټولګي متعلم دی، زه خپله تقاعد شوی یم د ۱۳۸۸ کال ژمی راباندې راغلی پېښور کې مې د لمسۍ واده وو چې د عزیز الله لور ده هغه واده ته یې بللي وو تراوسه پېښور کې یو خپلو تالیفاتو سمولو ته متوجه یو او د Ph.D اطروحه (رساله) باندې کار کوم. ضمن کې د ځینې ناروغیو له امله د کویت هسپتال کې بستر یم تداوی لاندې یم او د دې لیکنې تصحیح کوم. یو کال پس بیا پېښور ته راغلم د Ph.D د رسالو مناقشه مې وشوه ډګري مې واخسته او دې پسې بل کال زما د لمسي هارون خان د نور احمد د زوی واده ته چې کابل نه پېښور ته تلم ژمی و د زرکې واده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د پرواني کوژده شوې وه نو له زرکې سره پېښور ته راغلم ژمی مو تېر کړ ځو شپې محمد یار زوم کره لاهور ته لاړو پسرلی کابل تـه لاړو اوس د ۱۳۹۱ کال ژمی دی بیا پېښـور کې د نـور احمد وراره (رضـوان) واده تـه پېښـور تـه زرکې او پرواني دواړو سره راغلي یو دا وو په لنډ ډول زما ژوند لیـک، چې مفصل یې د (ښاد ژوند) په نوم کتاب کې شته دی.
ښایي د درنو لوستونکو د رشوت نکتې په کې د پام او استفادې وړ شي او پر ما یې نیک گمان راشي، دعا راته وکړي، چې الله تعالی په خپل رحم مـونږ ته ښنه وفرمایي او رضا شي.

په درناوي
ښاد جبارخېل

www.meiltahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library





## د ښاد جبارخېل د عربي شعر یوه نمونه

# النشیده

امر الله المتعال    صر بعلم عال عال
اجتنب جهل الجهال    التزم وجه الکمال

***

انظر الی العالمین    حیرن العاقلین
اخترع فوق المبال    صر بعلم عال عال

***

فی السباق صانعین    کاشفین مبدعین
امسک عزوة الحبال    صر بعلم عال عال

***

علیک الجهد الجید    بالزمان لا قید
لا بقرب بعد بال    صر بعلم عال عال

***

انترنیت عجب الزمان    سخر ما فی المکان
ایقظ اترک الکسال    صر بعلم عال عال

***

انتبه "شاد جبارخیل"    لا تبق من قوافل
اسبق من اسبق الحال    صر بعلم عال عال

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رشوت

رشوت ستر مصیبت دی
په دین دنیا افت دی
د خدای له خوا راشي ته همداراز مرتشي ته بینهما یمشي ته
نفرین، طرد او لعنت دی
په دین دنیا افت دی
رشوت دی ستر فساد هم ظلم هم بی داد حفه حق کړي برباد
لایق د عقوبت دی
په دین دنیا افت دی
څارنه کې چې ګېر شي خواب ترې تېر او بېر شي قضا ته پرې ورتېر شي
قضا کې عدالت دی
په دین دنیا افت دی
منفک شي وظیفې نه جدا شي له رتبې نه بندي شي اولادې نه
دوزخ کې یې محلت دی
په دین دنیا افت دی
توبه باسه رشوت نه رشوت رد کړه ذمت نه ډاربېږه آخرت نه
د (ښاد) دا نصیحت دی

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دين دنيا افت دی

# د رشوت پراخه مانا

www.melitahrik.com 0777 400 116

څرنګه، چې د رشوت د کلمې د لفظ دلالت د هغې د پراخې معانيو لرلو له لامله د اختلاف مورد ګرځيدلې نو د هغې د مانا بيانول ضروري دي، څو چې کومې پوښتنې په دې برخه کې مطرح کيږي هغو ته ځواب ورکړل شي او کوم سوالونه، چې له دې جملې طرح کيږي عبارت دي له لاندې پوښتنو څخه:

۱ـ ايا رشوت په قضاوت پورې اختصاص لري. يا په نورو امورو پورې هم اړه لري؟

۲ـ آيا رشوت يوازې په مالونو صدق کوي او که غير مالي مواردو هم په کې شامل دي ؟

لکه: اقوال، افعال او داسې نورې پوښتنې، چې ځوابونه يې د رشوت د مانا بيانولو پورې اړه لري، چې د رشوت د کلمې د لغوي او اصطلاحي ماناګانو کې مخې ته راځي هغه دې ولوستل شي، چې په لاندې ډول دي:

## د رشوت لغوي معنی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رشوه عربي کلمه ده. له (رشو) اخيستل شوې ده او د (ر) په فتح (زور) کسر (زير) ضم (پېښ) تلفظ شوې ده، جمع يې (رش) يا (ريش) ده، چې د (را) په ضم (پېښ) او کسر (زېر) باندې لوستل شوې ده، او سيبويه ويلي دي، چې اصل کې په ضم دی که څه هم په کسر يعنې زېر يې اکثره عرب استعمالوي.

رشوت ته په پښتو کې بډې او موک هم وايي، چې د ورکولو، اخستلو، غوښتل، خوړلو او مزدورۍ[1] په ماناګانو هم استعماليږي[2]، او جمع يې (ارشيه)، (رشی)، (ياريش)[3] ده. او د (رشوه) ګړه له (رشا) اخيستل شوې ده، چې (رشا) هغه تناب يا رسۍ ته وايي، چې د هغه په توګه لوښی څاه کې اوبو ته رسيږي[4] او عرب وايي: "رشا الفرخ" يعنې چورګوړي خپله غاړه د مور خولې ته وغزوله، چې خوله کې يې خوراکي څيز ورکړي[5] او ځينو ويلي دي، چې (رشوه) له (ريش) اخيستل شوی دی، چې (ريش) د سمولو، نېکۍ ته رسېدلو او د نښې ويشتلو مانا ورکوي[6]، چې له (ريش السهم) يعنې غشی يې وويشت، څخه اخيستل شوی دی[7]، د رشوت په دې ټولو ماناګانو کې مشترکه وجه شته، چې هغه غزول، رسېدل دي يا د طناب يا د جرګې غاړه

---

۱. صفي پور، منتهی الارب ج/۱ ص ۴۵۱ [مجله ماهوار عدالت لسم کال شماره ۱۳۸۷/۷۱.
۲. علی اکبر ده خدا، لغت نامه ده خدا ج ۸ ص ۹-۱۲.
۳. ابن منظور، لسان العرب ج ۱۴ ص ۳۳۲ ماده (رشا).
۴. ابن اثير – النهايه فی غريب الحديث ج ۲ ص ۲۲۲.
۵. محي الدين، مجمع البحري ج ۱ ص ۱۸۴.
۶. جارالله زمحشری – اساس البلاغه ج ۱ ص ۳۴۲.
۷. فخر الدين طرحي، مجمع البحرين ج ۱ ص ۱۸۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږدول چورګوړو ته ماناګانې د رشوت له مانا سره بې مناسبته نه دي، ځکه چې رشوت هم یو ډول توسل، لاس اوږدول، مقصد ته د رسېدلو لپاره دی.

## د رشوت اصطلاحي هغه مانا، چې ټولو پرې موافقه کړې ده

د رشوت په اصطلاحي مانا کې علماء واحد نظر نه لري د فقه علما هم د رشوت د کلمې په مصادیقو کې اختلاف سره مخ شوي دي، دوی د اهل لغت په نظریاتو استناد کوي، چې هر چا یو خاص تعریف د رشوت لپاره بیان کړی دی.

(طرحي) د رشوت په تعریف کې ویلي دي (هوا الرشوة بالشئ: ما یعطیه الشخص الحاکم وغیره لیحکم له او یحمله علی ما یرید و قل ما تستعمل الا فیما یتوصل به الی ابطال حق او غشیه باطل" [۱] یعنې (رشوه) د (را) په کسره هغه څیز دی، چې څوک یې حاکم یا بل چا ته ورکوي، چې د ده په نفع حکم وکړي. یا هر څه، چې غواړي هغه ترسره کړي، رشوت هغو موارد و کې استعمالیږي، چې د هغه په توګه یو حق باطل شي یا د هغه په توګه باطل په جریان کې ولوېږي. دی تعریف کې څو ټکي د توجه وړ دي:

۱. فخر الدین طرحی، مجمع البحرین ج ۱ ص ۱۸۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ د (ما) توری موصول دی او د (رشوه) توري لپاره خبر واقع شوی دی او عام دی، چې سربېره پر اموالو، غیر مالي څیزونو باندې هم شامل دی. لکه د انسانانو وینا او تلل د مثال په توګه، چې څوک لوړ شخص ته سلام وکړي یا منواضعانه تلل ورسره وکړي، یا ترې پاتې شوي کارونه تکمیل کړي، یا په معاملو کې له هغه کمې پیسې واخلي، یا په امتیازاتو ورته قایل شي، د دې لپاره، چې د ده په نفع حکم وکړي، دا ټول څیزونه د رشوت په حکم کې راځي. اما د تعریف (بعطیه) ګړه څرګندوي، چې رشوت باید داسې څیز وي، چې د ورکولو قابلیت ولري او دا ګړه د دې قرینه ده، چې د (ما) عامه مانا محدوده شي؛ نو هغه څه، چې د (ما) له توري په ذهن کې تېرېږي هماغه مال دی او غیر مال په کې داخل نه دی، او دا یو له هغو مواردو دی، چې د فقهاوو ترمنځ د رشوت د تحدید مورد کې د اختلاف سبب شوی دی او په ځای خبره ده، چې په دې برخه کې څېړنه وشي.

۲ـ په دې تعریف کې په حق یا باطل حکم کولو غوښتنې ته هیڅ اشاره نه ده شوې؛ نو که حق وي او که نه وي که دهغه د غوښتنې لپاره یو څه ورکړي رشوت شمېرل کیږي. یعنې که څوک د خپل حق په لاس راوړلو لپاره کوم څیز ورکړي بیا هم رشوت ګڼل کیږي، اما هغه جمله چې تعریف لاندې راغلې راښیي، چې (رشوة) یوازې هغه مواردو کې وي، چې د حق ابطال یا د باطلو په جریان کې اچولو لپاره ورکول کیږي او هغه دا غونډله ده، چې (و قل ما تستعمل الا فیما یتوصل به الی ابطال حق اوغثیه باطل) یعنې (رشوه) کم استعمالیږي مګر په هغو مواردو کې، چې د هغه په توګه حق باطل شي یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



باطل په جریان کې ولویږي. دا عبارت ښيي، چې څوک د خپل حق د تحصیل لپاره څه ورکړي هغه رسوة نه دی.

۳ـ دغه تعریف کې سربېره پر دې، چې د قاضي هر حکم شامل دی په غیر قضاوت او حکم هم شمولیت لري. د مثال په ډول که څوک وغواړي، چې کار بې ژر سرته ورسیږي، یا خپل بندي په غیر قانوني وخت کې وګوري، یا د زوی د تولد نېټې ته تغییر ورکړي، یا ساختماني سند چې قانوني مانع لري واخلي، که د دغو امورو متصدي ته څه ورکړي هغه په رسوة کې شمېرل کیږي؛ ځکه چې په دې تعریف کې د قاضي په حکم سربېره چې د (الحاکم) له توري معلومیږي د (وغیره) لفظ هم ورسره شته دی او ذکر شوی مطلب ترې روښانه معلومیږي.

۴ـ د رشوت کلمه هغه مورد کې صدق کوي، چې څه ورکړي او قاضي یې په نفع حکم وکړي یا یې په نفع بل کار سرته ورسوي لکه چې د (له) له قید او د (یحمله علی ما یرید) جملې معلومیږي او که په مطلق ډول څه ورکړي او معلوم نه کړي، چې په نفع یې حکم وکړي او یا یې په نفع کوم کار سرته ورسوي. رشوه په هغه صدق نه کوي؛ ځکه (لام) یې د (الحکم) په سر کې راغلی دی د تعلیل لام دی، چې رشوت ورکول بیانوي.

دا ټول د ذکر شوي تعریف قیودات دي، چې د فقهاوو د اختلاف او د رشوت د تطبیق او توسیعې موجب شوي دي.

په (النهایه فی غری الحدیث) کې د رشوت تعریف داسې شوی دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



(الرشوة و الرشوه : الوصيله الی الحاجة بالمصانعة فاما ما يعطی توصلاً اخذ حق او دفع ظلم، فقيل داخل فيه)[۱] يعنې په کسر او ضم د (را) رشوت د تبانۍ او سازشکارۍ په توګه خپل حاجت ته د رسيدو لپاره ورکول رشوت نه شمېرل کيږي. اما که څوک خپل حق ته د رسېدلو يا د ظلم دفع کولو لپاره څه چا ته ورکړي هغه د ځينو په قول رشوت کې داخل دی. د دې تعريف هم څو نکتې د ملاحظې وړ دي :

۱ـ دې تعريف کې د قضاوت په مورد اشاره نه ده شوې نو ويلای شو، چې رشوت د قضاوت په مورد پورې اختصاص نه لري، بلکې د هر مقصد لپاره، چې رشوت ورکوونکی رشوت اخستونکي ته رشوت ورکړي هغه رشوت ګڼل کيږي؛ نو د دې تعريف له مخې په ادارو او مؤسسو کې هم رشوت جاري دی او څه شی، چې په دې صورت کې چا ته ورکړل شي رشوت شمېرل کيږي.

۲ـ د (الوصيلة) او د (المصانعة) کلمې راښيي، چې رشوت يوازې د مال ورکول نه دي، ځکه چې مقصد ته رسيدل په ورکولو د مال او غير مال ممکن دي. خو د تعريف دوه يمه برخه "اما ما يعطي توصلاً الی اخذ حق او دفع ظلم فقير داخله فيه" رشوت ته د تباني له لارې، باطل هدف او حاجت رسېدلو ته اختصاص ورکوي. لکه، چې د رشوت ورکوونکي له تعريف هم دغه نکته په لاس راځي او هغه دا ده، چې "فالراشي من يعطی الذی يعينه علی الباطل" يعنې رشوت ورکوونکی هغه څوک دی، چې چا ته يو څيز ورکړي، چې په

---

۱. ابن اثير، النهايه فی غريب الحديث ج ۲ ص ۲۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باطل کار کې مرسته ورسره وکړي، له دې تعریف هم پوهېدل کیږي، چې څوک د خپل حق حاصلولو لپاره چا ته څه ورکړي. په هغه ځیز رشوت صدق نه کوي، بلکې تخصصاً د عام له حکم وتلی دی او د خروج موضوع لري.
زمحشري هم د رشوت په برخه کې همدا تعریف بیان کړی دی او همدغه نکته د ده له تعریف هم څرګندیږي.
او ابن منظور د رشوت په تعریف کې راوړي دي، چې : "الرشوه و الرشوة : معرفة الحمل[1]" یعنې رشوه که به سه وجه است تعریف ان جعاله است او فیروز آبادي هم دغه تعریف راوړی دی.[2]
د رشوت له ذکر شویو تعریفاتو لاندې درې ماناګانې اخیستل کیږي :
۱_ عامه او پراخه مانا، چې ټولو محتملو مواردو او مصادیقو ته شامله ده لکه د ابن اثیر تعریف چې ویلي یې دي: "الوصلة الی الحاجة المصانعة" یعنې رشوت له قبلي توافق او تباني سره حاجت ته رسېدل دي، هرې وسیلې ته شاملیږي. چې د هغه په توګه حاجت ته ورسیږي که د قاضي د قضاوت په مورد کې وي او که په غیر له هغه کې وي او که حق ته پرې ورسیږي یا باطل ته په مال ورکولو وي او که په غیر له مال.
۲_ د مجمع البحرین له تعریف څنې دا مانا تقویه کیږي، چې رشوت هغه ځای کې وي، چې حق باطل شي او باطل جریان کې ولویږي.

---

۱. ابن منظور، لسان العرب ج ۱۴ ص ۲۱.
۲. شیخ انصاري، الکاسب ص ۳۵ له قاموس المحیط نقل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳_ یو شمېر فقها رشوت د قاضي جعل په مانا پوه شوی دی یعنې څه چې قاضي د جعل په عنوان د حکم په برابر کې اخلي رشوت دی، چې حکم په حق وکړي یا په باطل.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قضاوت

قضا: په لغت کې ډېرې معناوې لري، چې ځینې یې دا دي: اتفاق، محکم، د کار له بشپړېدلو فراغت فیصله او د خصومو ترمنځ حکم.

د قضا تعریف: فقهاوو د قضا معنا د شرع له نظره په متعددو ډولو کړې ده چې له هغې جملې یې یو تعریف داسې کړی دی: "هو الحکم بین الناس بالحق بما انزل الله" یعنې قضاوت د څښتن تعالی له حکم سره سم د وګړو ترمنځ په حقه فیصله کولو ته وایي. دا تعریف یې کاساني، حنفي او ابن قاسم مالکي او خطیب شافعي کړی دی. یعنې قضاوت د خلکو ترمنځ په هغه څه کولو ته وایي، چې الله تعالی نازل کړی دی او ځینو یې داسې تعریف کړی دی: "هو الولایة الشرعیة ممن هو اهل لها، والحکم المرتب علی هذه الولایة" یعنې قضاوت یو شرعي ولایت دی، چې له هغه چا صادر شي، چې د قضاوت اهلیت لري او په دغه ولایت یې حکم مرتب شي.

قضا په اسلام کې مهمه او مقدسه دنده ده؛ ځکه، چې په هر زمان او پېړۍ کې محکمه فریضه او د انبیاء علیهم الصلوة والسلام د رسالت جز ده او د څښتن تعالی د بندګانو ترمنځ د عدالت تامین دی. له دې امله انبیاء د قضاوت په دنده مکلف شوي دي لکه (یا داود انا جعلناک حلیفة فی الارض

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاحکم بین الناس بالحق و لا تتبع الهوی فیضلک عن سبیل الله، ان الذین یضلون عن سبیل الله لهم عذاب شدید بما نسوا یوم الحساب" [۱] یعنې ای داوده! په تحقیق ته مې خلیفه کړې په ځمکه کې، نو په خلکو کې په حقه (عدالت) فیصله کوه، د خواهشاتو پیروي مه کوه، چې تا به د څښتن تعالی له لارې گمراه کړي، په تحقیق څوک، چې گمراه کیږي له لارې د الله تعالی هغوی ته سخت عذاب دی په سبب د هغه چې د حساب ورځ یې هېره کړله.

او د اسلام پیغبر صلی الله علیه وسلم ته څښتن تعالی داسې فرمایلي دي: "و ان احکم بینهم بما انزل الله و لا تتبع اهواء هم" [۲] یعنې د دوی ترمنځ فیصله وکړه (مطابق) له هغه څه سره، چې الله تعالی نازل کړي دي او د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه. او فرمایلي یې دي: "انا انزلنا الیک الکتاب بالحق لتحکم بین لناس بما اراک الله" [۳] یعنې په تحقیق ما تا ته کتاب نازل کړ په حق، چې د خلکو په منځ کې فیصله وکړې (مطابق) د هغه څه، چې الله تعالی درښودلي دي. په قرآن مجید کې داسې ډېر آیتونه دي، چې د قضا په اهمیت او قدسیت تاکید کوي.

## د قضا شرعي حکم:

د پاس ذکر شویو او د هغو غوندې د نورومبارکو آیتونو له حکم څرگندیږي، چې قضا د محکمو فرایضو له جملې څینې ده، چې قرآن، سنت او اجماع

---

۱. ص / ۲۶.
۲. المائده / ۴۹.
۳. النساء / ۱۰۵.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



وربانديږ تاکيد کوي. د ابوداؤد، امام احمد بن حنبل د رواياتو په حواله پېغمبر صلی الله عليه وسلم دغه قاضيان مقرر کړي دي:

۱ـ علي بن ابي طالب او ابو موسی اشعري رضي الله عنه يمن ته د قضا په صفت ولېږل او د ابو داؤد او ترمذي په روايت يې معاذ بن جبل رضي الله عنه يې د قاضي په صفت يمن ته ولیږه.

۲ـ عتاب بن اسيد رضي الله عليه يې مکه معظمه کې قاضي وټاکه.

همدارنگه د خلفاو راشدينو په وخت کې د قضاتو ټاکل ضروري او لازمي کارونه و حضرت عمر رضي الله عنه ابو موسی اشعري رضي الله عنه بصرې ته او عبدالله بن مسعود يې کوفې ته د قاضيانو په توگه واستول.

هغه ستر اشخاص، چې د قضا په منصب ټاکل شوي او موفقانه يې دغه دنده سرته رسولې دا دي:

۱ـ حضرت عمر رضي الله عنه.

۲ـ حضرت علي رضي الله عنه.

۳ـ حضرت معاذ رضي الله عنه.

۴ـ ابو موسی اشعري رضي الله عنه.

۵ـ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه.

۶ـ قاضي شريح او قاضي ابو يوسف رضي الله عنهما.

د قضا د فرضيت او لزوم په برخه کې ټول علماء متفق دي او په همدې يې اجماع منعقده کړې ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قضا ته اړتيا کې حکمت :

په بشري ټولنه کې انسانان متفاوت دي. ځينې په خپلو شتمنيو قناعت لري. له هغو مشروعه استفاده کوي او د چا حقوقو ته سترګې نه اړوي، په مسالمت آميزه شکل ژوند کوي د چا په حقوقو تصادم او تجاوز نه کوي، خوځيني انسانان دغه صفات نه لري. برعکس شر خوښوونکي وي د خپلو حقوقو له حدودو تجاوز کوي. يا د خپلې فطري جهل او ناپوهۍ غريزې له مخې به خپلې برخې قناعت نه کوي د نورو په حقوقو تجاوز کوي، چې هغه فطري غريزه الله تعالى داسې بيان کړې ده : "انه کان ظلوما جهولاً" [۱] په تحقيق (انسان) ډېر ظالم او ناپوه دی. يا دا ، چې فاميلي تربيه نه لري له علم او فرهنګ لرې وي، يا آلوده او فاسد محيط سره خلط وي ځکه چې الله تعالى انساني ټولنه داسې پيدا کړې، چې هيڅوک په ژوند کې له بل چا مستغني نه وي، بلکې په يو شکل له اشکالو يو بل ته اړتيا لري. شته من بزګر ته اړ دي، بزګر تاجر ته همداسې نور... قرآن مجيد دې حقيقت ته داسې اشاره کړې ده: "نحن قسمن بينهم معيشتهم فى الحيوة الدنيا و رفعنا بعضهم فوق بعض درجات ليتخذ بعضهم بعضاً سخريا" [۲] يعنې "مونږ د دوی روزي د دوی په منځ کې په دنيوي ژوند کې ويشلې ده او ځينې د دوی

---

۱. الاحزاب / ۷۲.
۲. الزخرف / ۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو پر ځينو نورو په درجو کې لوړ کړي دي، چې ځيني د دوی ځيني تابع (مسخر) کړي.

نو راکړه ورکړه د انسان د ژوند مهم جز دی. په دې کې هم طبايع مختلفې دي: ځينې دغو معاملو کې ديانت او امانت داري نظر کې نيسي او ځينې برعکس د هغه وي، چې دا سلوک يې د کړکيچ موجب کيږي.

دا ټول هغه عوامل دي، چې د قضا په ضرورت تاکيد کوي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قضا د مشروعیت غرض او هدف

د قضايي نظام د وضع اساسي هدف د عدالت تامین او بشري ټولنه کې د انصاف تعمیم دی، چې په نتیجه کې یې د حقوقو او وجایبو ترمنځ د توازن ساتلو رعایت راځي او دغه د توازن قانون نه یوازې انسانانو کې، بلکې په نورو کائناتو کې له اتم تر کهکشانو او شمسي منظومه کې هم جریان لري، چې د څېښتن تعالی په قدرت په کې تنظیم شوی دی. لکه، چې فرمایلي یې دي:

"ان الله یمسک السموات والارض ان تزولا و لئن زالتا ان امسکها من احد من بعده، انه کان حلیما غفورا"[1] هرو مرو الله تعالی آسمانونه ساتي، چې له خپل ځای نه زائل نه شي او که (بالفرض) زائل شي هغه هیڅوک له زائیلېدلو نه ساتي مگر دی په تحقیق حلیم او ښښونکی دی. او قرآن مجید کې د توازن ساتلو لپاره داسې اشاره شوې ده: "ان الله یامر بالعدل و الاحسان" په تحقیق الله تعالی په عدل او احسان کولو امر کوي، چې د حق او مکلفیت ترمنځ او د جرم او جزا ترمنځ او د خسارې او جبران ترمنځ او له ظالم نه مظلوم ته د هغه د حق په استرداد توازن برقرار وي.

## د قاضي ټاکل او د قضاء د منصب منل:

---

۱. الفاطر / ۴۱.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پورتنیو دلایلو څرګنده شوه، چې د قاضي ټاکل ضروري دي او د فقهاوو اختلاف په کې نشته او د قضا قبلول او منل لاندې حکمونه لري:

۱ ـ فرض عین: که د قضا لپاره یو شخص په ټولو شرایطو برابر وي او د ده په څېر بل څوک نه وي نو په ده د قضا منل فرض عین دي، ځکه که دی یې ونه مني بیا به بل یو ناپوه شخص قاضي شي، چې د ده په نااهلۍ به عدالت تر پښو لاندې شي.

۲ ـ فرض کفایي: که څو تنه د قضا وړ اشخاص وي که یو له دوی په قضا ونه ټاکل شي او بل څوک وټاکل شي بیا به د هغه په نااهلۍ عدالت تر پښو لاندې شي.

۳ ـ حرام: که د یو نااهل، بې کفایته او جاهل شخص په قضا ټاکلو، چې حقوق ضایع او فساد شایع کیږي هغه ته یې قبلول او منل حرام دي. دې برخه کې مشهور حدیث دی، چې: پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

"القضاء ثلاثة: اثنان فی النار و واحد فی الجنة: رجل علم الحق و قضی به فهو فی الجنة و رجل قضی للناس علی جهل فهو فی النار، و رجل عرف الحق فجار فی الحکم فهو فی النار"

یعنې قضاوت درې ډوله دی: چې دوه ډوله یې دوزخ کې او یو یې په جنت کې دی، کوم سړی، چې حق وپېژانده او په هغه یې قضاوت وکړ هغه په جنت کې دی او کوم سړي، چې خلکو ته په جهل قضاوت وکړ هغه په اور د دوزخ کې دی، او کوم سړي، چې حق پېژانده او په حکم کې یې ظلم وکړ هغه په اور د دوزخ کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قضاوت شرطونه:

قاضي باید دغه شرطونه ولري :

۱_ عقل : چې لیونی او ناقص العقله نه وي.

۲_ بلوغ : چې ماشوم نه وي.

۳_ حریت : چې غلام نه وي.

۴_ روغ حواس ولري، ړوند ، کوڼ او گونگ نه وي.

۵_ فاسق نه وي : ځینې فقهاء د فاسق فیصله نافذه بولي خو بل لوری د فاسق تاکل په قضا حرام گڼي.

۶_ کافي علم او په شرعي علومو کامل تسلط ولري.

۷_ تقوی او پرهیزگاري ولري او الله تعالی حاضر او ناظر وبولي.

۸_ د اجتهاد قوت ولري په نزد د ځینې فقهاوو.

۹_ د عدالت تطبیق توان لري او منصفانه حکم وکولای شي، بدون له نظر کې نیولو د قوم، قبیله، خپلوي، ژبه، منطقه، دین، مذهب ... او نور.

۱۰_ د شرع په احکامو پابندي او التزام او د هغو له حدودو نه وتل.

۱۱_ د حقوقو او وجایبو ترمنځ د توازن رعایت، چې د مخه ذکر شو.

۱۲_ د اثبات په وسایلو کامل التزام او نفسي قناعت ولري.

## اداري فساد کې قضایي عوامل:

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثرنگه، چې د قضاء هدف د عدالت تامین دی، نو د عدالت پایمالولو کې مؤثر علت په اداري فساد کې کیږي او د عدالت د پایمالولو اسباب داسې بیانولای شو:

۱_ عدم اهلیت او بې کفایتي.

۲_ د شرع په احکامو جهل.

۳_ د شرع نصوصو ته اهمیت نه ورکول او لازم نه گڼل.

۴_ قومي، قبیلوي، خپلوي، ژبني، دیني او مذهبي اړیکي او اثرات یې، الله تعالی فرمایلي دي: "یاایها الذین امنوا کونوا قوامین بالقسط شهداء الله و لو علی انفسکم اوالوالدین و الاقربین" [۱]

یعنې: ای مؤمنانو! په انصاف ولاړ اوسئ او د خدای لپاره شاهدي ورکوئ که څه هم ستاسې په ضرر وي یا ستاسې د مور او پلار یا د خپلوانو په ضرر وي ..." او فرمایلي یې دي: "ولا یجرمنکم شنان قوم علی الا تعدلوا، اعدلو هو اقرب للتقوی" [۲] او قومي دښمنۍ دې تاسې د دې باعث نه کړي، چې تاسې انصاف ونه کړئ، عدل وکړئ، عدل تقوا ته ډېر نږدې دی.

۵_ د حق او مکلفیت ترمنځ د توازن مراعات نه کول.

۶_ د جرم او جزاء ترمنځ د توازن رعایت نه کول.

۷_ د خساره او جبران ترمنځ د توازن رعایت نه کول.

۸_ رشوت او ارتشاء.

---

۱. النساء / ۱۳۵.

۲. المائده / ۸.

www.meliatrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اداري فساد په برخه کې به ځانګړې رساله نشر ته وړاندې شي، ان شاء الله تعالی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قضاوت کې عدالت

په قضاوت کې عدالت دی په کار
بې عدالته قضاوت څه په کار
چې یوې سپږې نه پوستین سوزیږي    یا یوې مږې نه بارگین ورانیږي
دا نه قضا نه قضاوت دی نه ځار
په قضاوت کې عدالت دی په کار
د کټه پیش سزا د قتل نه ده    د موټر غلا سزا د ستل نه ده
د تلې سم په عدالت لره تار
په قضاوت کې عدالت دی په کار
د سزا یو ډول تعزیر بل قصاص    یو د قاضي بل د شاکي دی په لاس
تعزیر کې رای جهدیت دی قرار
په قضاوت کې عدالت دی په کار
قصاص مظلوم واخلي په حق ورسي    تعزیر محکوم شي په سبق ورسي
د خاص او عام فرق شریعت کې اظهار
په قضاوت کې عدالت دی په کار
که د بنده حق کې بخښنه وشي    یا له قصاص نه تېرېدنه وشي
په حق الله کې سهولت شي دوځار
په قضاوت کې عدالت دی په کار
که درته راشي د کوم شي شکایت    عاجل تصمیم کې نشته هیڅ مصلحت

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــر اړخيـــز غـــور او دقـــت دی ښـــه لار
پـــه قضـــاوت کـــې عـــدالت دی پـــه کـــار
"ښـاد" شـي د خپلـو کارمنـدانو تـرمنځ پرېکړه کوه چې درتـه پـېښ نـه شي رنـځ
د لا بـــــديلو حفاظـــــت نــــه دی بــــار
پـــه قضـــاوت کـــې عـــدالت دی پـــه کـــار
عجـب دفتـر نـه کـړې ورانـۍ سـره مـخ او مخلصـين نـه کـړې د هيچـا پـه سـخ
ضـــرور يـــې تـــل صـــميميت ســـاته ځـــار
پـــه قضـــاوت کـــې عـــدالت دی پـــه کـــار

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رشوت ته د مخ کولو سببونه :

۱ـ تقوا نه لرل او د خدای تعالی په نزد د مسؤلیت نه احساسول.

۲ـ د دنیا حرص او شهوت پرستي.

۳ـ د رواتبو او معاشاتو کموالی.

او دا وروستنی سبب د رشوت مجوز نه شي کېدلای؛ ځکه، چې که ما يحتاجو ته يې کافي نه وي طلب د منصب يې مکروه دی.

عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : منصب مه غواړه، په دې صورت کې خپل نفس ته سپارل کېږې، او که بې سټا له غوښتنې منصب درکړ شي د خدای تعالی له خوا د هغه پر مخ وړلو کې کمک درسره کېږي. له همدې امله که قاضي پوه شي چې معاش يې د حوائجو د رفع کفایت نه کوي نو د قضاء منصب دې نه قبلوي څو په ګناهو کې اخته نه شي. څرنګه، چې قضا درنده وظیفه ده او قاضي مکلف دی، چې ټول وخت د قضا دندې ته وقف کړي او په بل کار لاس پورې نه کړي څو خپله دنده په ښه توګه سرته ورسوي، نو په دې برخه کې دولت هم مکلف دی، چې د هغه د ژوند ټول حوانج او ضروريات او د هغه د اهل او عيال اړتياوې پوره کړي؛ ځکه، چې دی په خپله وظیفه اسیر او محبوس دی او د ده حابس دولت دی او فقهي قانون دی، چې هر حابس باید د محبوس د ژوند اړتیاوې پوره کړي او بل د قاضي فقر او احتیاج نه یوازې د رشوت غوښتلو موجب کېږي، بلکې د قاضي په فکر، ذهن، اعصابو او روحیاتو کې خلل پېښوي او پېغمبر صلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله علیه وسلم قاضي د غضب او د اعصابو د ناآرامۍ په حال کې له حکم او فیصله کولو منع کړی دی.

د اسلام تاریخ راښیي، چې په صدر د اسلام کې قضاتو ته مناسب رواتب او معاشات ورکول کېدل. مثلاً : پېغمبر صلی الله علیه وسلم، چې معاذ رضي الله عنه یمن ته د قاضي په صفت وټاکه مناسب معاش یې ورته مقرر کړ او ورته یې وفرمایل : لعل الله یجبرک و یؤدی عنک دینک" یعنې هیله ده، چې څښتن تعالی دې د فقر جبران کړي او دین دې ادا کړي.

او عمر رضی الله عنه قاضي سلیمان بن ربیع ته پنځه سوه درهمه معاش مقرر کړی و او خپلو والیانو ته یې لیکلي وو چې نیک خلک او عالمان د قضا منصب ته وټاکئ او هغوی ته زیات او مناسب معاش مقرر کړئ. حتی که قاضي غني هم وي باید کافي معاش ورته ورکړل شي او هغه دې د معاش له اخستلو منع نه کوي؛ ځکه چې کله عمر رضي الله عنه عبدالله بن سعد (قاضي) ته معاش پیشنهاد کړ هغه قبول نه کړ. عمر رضي الله عنه ترې د نه قبلولو پوښتنه وکړه. هغه وویل: زه شتمن یم ضرورت ورته نه لرم غواړم زما معاش صدقه شي. عمر رضي الله عنه ځواب کې ورته وویل: داسې مه کوه، بلکې قبول یې کړه؛ ځکه چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم ما ته معاش پېشنهاد کړ. ما ورته وویل: هغه چا ته یې ورکړه، چې له ما زیات محتاج وي. حضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل: واخله ویې ساته یا یې صدقه کړه.

حضرت علي رضي الله عنه قاضي شریح ته د میاشتې (۵۰۰) درهمه معاش ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امویانو زمانه کې (په ولایت د مروان بن حکم کې د قاضي عبدالرحمن خولاني د هر قاضي معاش یو زر دیناره وو او د عباسیانو دوره کې د قضاتو معاش نور هم زیات شو.

د قضاتو په معاشونو کې د زیاتوالي سبب دا دی، چې قاضي په رشوت، طمع، فقر او احتیاج اخته نه شي.

چې دا ټول څیزونه د عدالت د پایمالېدلو باعث گرځي.

## د رشوت منفي اثرات

١_ په قضایي مصداق د اعتماد سقوط.

٢_ د حقوقو ضیاع.

٣_ په دوه برخو د ټولنې وېش: لومړی زورور، ظالم او متجاوز او دویم بې چاره مظلوم او مستضعف.

۴_ د عقدې فضا منځته راځي. دښمني، د امنیت زوال او هرج مرج پیدا کیږي.

۵_ د ملي وحدت متاثر کېدل.

۶_ د غیر مشروع تجارت او کسب شیوع.

٧_ د دولت او مخالفانو صفوف قوي کیږي.

٨_ باندیني مداخلو ته زمینه مساعده کیږي.

٩_ باندینیو استفاده کوونکیو ته زمینه مساعده کیږي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



حل د دې ټولو مشکلاتو له هغې جملې د اداري فساد او رشوت د عدالت په تامين کې دی او د عدالت تامين د سم قضايي نظام په وجود کې راځي، چې هغه بااهليته، با کفايته او متقيان قضات تشکيلوي او غير له هغو به دا ټول ځيزونه سم نه وي.

زمونږ په ټولنه او د بشر ټولو ټولنو کې د عدالت پياده کولو په هيله.

و صلی الله تعالی علی خير خلقه محمد و اله واصحاب اجمعين. [۱]

www.melitahrik.com
0777 400 116

۱. د دکتور محمد اياز "نيازي" د مقالې په استفاده، چې د "عوامل فساد اداری و راهای حل آن" په نوم سيمينار ته يې د کابل د علومو اکاډمۍ ته استولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رشوت حکم
## په قرآن کریم کې

لومړی آیت:
الله تعالی فرمایلي دي: "ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل و تدلوا بها الی الحکام لتاکلوا فریقاً من اموال الناس بالاثم و انتم تعلمون" (۱)
یعنې مالونه مو خپلو منځو کې په ناحقه او د باطل له لارې مه خورئ او هغه حاکمانو ته یې مه لیږئ، چې د خلکو مالونه په ناحقه خوري، په داسې حال کې، چې پوهیږئ.
د دې مبارک آیت لومړی برخه انسان د مال له خوړلو په حرامه او باطله لاره منع کوي، چې رشوت هم په کې راځي. څرنګه، چې یو له مصادیقو د حرامو رشوت دی، نو د مفسرینو په وینا (تدلوا بها) کلمه په رشوت صراحت لري او انسان د بل چا د مال له خوړلو د رشوت په توګه حتی له رشوت ورکولو نهي او منع کوي. دا مبارک ایت د مفسرینو په نزد، دوه ښودنې کوي: یوه دا، چې ظالمو حاکمانو باندې باید قضاوت ونه شي، چې په ناحقه حکم ونه کوي او بل دا، چې دا ایت شریف د رشوت په حرمت دلالت کوي. په مجمع البحرین

---

۱. بقره / ۱۸۸.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د (تدلوا) کلمه په دې دواړو معانیو راغلې ده او له (محتاج الفقه) نه یې یوازې د رشوت په معنا رانقل کړې ده.

علامه طبا طبایي د (اکل، مال، بین، باطل) کلماتو له تشریح او توضیح کولو اود هغو له یوې بلې سره د اړیکو بیانولو وروسته د (ادلا) کلمې په برخه کې ویلي دي، چې:

(ادلا) د (تدلوا) مصدر ده او په څاه کې د اوبو راوېستلو لپاره د دلوې اچولو معنا لري او په دې مبارک آیت کې یې منظور حاکمانو ته رشوت ورکول دي، چې د دې مطلب لپاره ښکلې او لطیفه کنایه ده، چې د رشوت ورکولو منظور نظر حکم یې په څاه کې د لاندې اوبو په لاس راوړلو لپاره دی، چې د دلوې په رسۍ له هغې څاه راوېستل کیږي.

د (تدلوا) له کلمې له ادبي نظره دوه احتماله دي. یو دا، چې په (تاکلوا) کلمه عطف او مجزوم به نهي وي، چې په دې صورت کې انسان له رشوت ورکولو نهي کوي (یعنې خپل مالونه په خپلو منځو کې په باطله مه خورئ او حکامو ته رشوت مه ورکوئ.)

او دویم احتمال یې دا دی، چې د (تدلوا) کلمه د نصب په محل کې قرار لري او عامل مقدر (ان) دی او له هغه مخکې (واو) یې د عطف لپاره دی، بلکې د (مع) په معنا دی، تبدیلي یې داسې کیږي (مع ان تدلوا).

بناء پر دې د دې ایت مجموع یو کلام دی، چې د یوه منظور لپاره بیان شوی دی او هغه نهي ده. له دې، چې رشوت ورکوونکی او رشوت اخستونکی یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل سره سازش وکړي او د خلکو مال په ناحقه وخوري. يعنې خپل مالونه تاسې په خپلو منځو کې په باطله او د رشوت له لارې ونه خورئ.

د الميزان له بيان څو نکتې په لاس راځي :

اوله نکته دا ده، چې د (ادلا) د کلمې معنا ، چې د (تدلوا) مصدر غير له رشوت د بلې معنا هيڅ احتمال نه لري، نو څرګنديږي، چې دا مبارک آيت د رشوت په نهي صراحت لري او همدارنګه له ادبي نظره که د (تدلوا) کلمه د (تاکلوا) په کلمه عطف وبولو او که د نصب په محل کې مقدر عامل (ان) وګڼو په هر صورت د رشوت په نهي دلالت کوي.

دوه يمه نکته دا ده، چې د رشوت کلمه په عام ډول د قضاتو د قضاوت او هم د غير قضاتو په برخه کې کارول شوې ده؛ ځکه رشوت يوازې هغه نه دی، چې د قاضي د قضاوت او د حکم لپاره ورکول کيږي، بلکې هر حاکم او امر کوونکي ته که قاضي وي او که نه وي يو څه د چا له مال ورکړ شي، رشوت نوميږي، چې خدای تعالی ترې نهي فرمايلې ده.

امام فخر رازي د (لا تدلوا بها الی الحکام) تفسير په (لا ترشوها اليهم) سره کړی دی نو د ده له تفسير هم څرګنديږي، چې رشوت په قاضي پورې منحصر نه دی، بلکې مطلق حاکم پورې صدق کوي؛ ځکه، چې د (فی الحکم) قيد ورسره نشته دی.

همدارنګه تفاسيرو کې راغلي دي، چې يو له بله خپل مالونه په باطله طريقه ونه خورئ. لکه له لارې د غارت ګرۍ، غلا ، فريب، چې رشوت هم يو له دې څيزونو څينې دی.

www.meftahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه یم آیت :

"ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل الا ان تکون تجارة من تراض" [۱] یعنې خپل مالونه په خپلو منځو کې په باطله مه خورئ، مګر دا چې د تجارت او د دواړو خواوو په رضایت وي.

په کشاف تفسیر کې (باطل) داسې تفسیر شوی دی، چې شریعت مباح کړی نه وي. لکه غلا، خیانت، غصب او دې ته ورته په نورو تفسیرونو کې هم راغلي لکه المنار، تبیان او طبري، خو ټولو تفسیرونو کې چې کومه معنا د (باطل) کلمې شوې ده، په کې (رشوت) هم شامل دی.

دریم آیت :

دریم آیت کې راغلي دي "سماعون للکذب اکالون للسحت" [۲] یعنې دروغو ته ډېر غوږ نیسي او ډېر حرام خوري. دا آیت شریف د یهودو د علماوو په برخه کې نازل شوی دی، د یهودو علماوو به له خلکو رشوت اخیسته او د خاوند تعالی حکم به یې تغیر وو. په دې مبارک آیت کې له رشوت تعبیر په (سُحت) سره شوی دی.

## د "سحت" معنا :

سحت د سین او حاء په ضمه او د سین په ضمه او د (حاء) په سکون هغه ثېز ته وایي، چې کسب کول یې حلال نه وي، یعنې محرمه مکاسب.

---

۱. سورة النساء / ۲۹.
۲. مائده / ۴۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او (سحت) د حاء په سکون د نابودۍ او هلاکت معنا لري. که ځوک ووايي: سحته يا اسحته، يعنې هغه يې له منځه يووړ له دې امله يې حرامو ته (سحت) ووايه، چې نابودي او عذاب لري.

بل قول په کې دا دی، چې: ځرنګه حرام هيڅ برکت نه لري هغه يې په (سحت) سره ياد کړل او دريم قول دا، چې حرام، مروت او مردانګي له انسان سلبوي او هغه ته سحت ويل کيږي.[1]

سحت ډېر مصاديق لري، چې له هغې جملې "رشوت" په حکم کې دی، او په ورپسې ايت شريف کې "فيسحتکم بعذاب اليم"[2] دې ته اشاره کوي، چې (يسحتکم) په دې آيت کې د (تاسې هلاکوي) معنا لري.[3]

د (سحت) کلمه په قرآن کريم کې يو ځلې د مضارع فعل په صورت او درې ځلې (السحت) په صورت راغلې ده او ټولو مواردو کې بس له (اکل) بيان شوی دی او د دې کلمې په تفسير کې، چې ځومره روايتونه راغلي دي (سحت) يې د (رشوت) په معنا پېژندلی دی. لکه طبري، مجمع البحرين.

رشوت سره نور ډېر بد کارونه هم منځته راځي. لکه دروغ، ناحقه شهادت، د مستحق مال غير مستحق ته ورکول، چې د باطل مقصد اجرا شي. د درواغو شهادت اورېدل، له خاوند تعالی او رسول سره خيانت، بې مروتي او داسې

---

۱. الاحزاب / ۴۴.
۲. مجمع البحرين ج ۲ ص ۱۸۳.
۳. مجمع البيان ج ۱ / ۱۹۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور څرنګه، چې دا ټول ناوړه اعمال په رشوت کې وجود لري. ځکه پېغمبر صلی الله علیه وسلم د (سحت) کلمه په (رشوت) سره معنا کړې ده.

د راغب په مفرداتو کې (سحت) د هغه پوستکي په معنا ده، چې وبستل کیږي... سحت او اسحت دواړه په متعدي معنا د هلاکولو په معنا استعمال شوي دي، او سحت، چې د حرام کار په معنا استعمال شوی دی، چې د هغه د کوونکي د ننګ او شرم باعث هم ګرځي. هغه هم له همدې باب یعنې متعدي ځینې دی، چې ګویا د هغه دین او شرافت له منځه وړي. له دې امله (اکالون للسحت) داسې معنا کوي: څه شی، چې دین د دوی له منځه وړي، نو هر مال، چې په حرامه په لاس راځي سحت نومیږي او د دې آیت سیاق دا دی، چې له سحت نه رشوت مراد دی.

د یهودو یوې ډلې علماوو پېغمبر صلی الله علیه وسلم ته رشوت وروړ، چې د خدای تعالی حکم ته تغییر ورکړي، ځکه په (اکالون للسحت) یاد شول.

له دې امله، چې سحت د حرام او هم د رشوت په معنا راغلی معلومه ده، چې رشوت یو له څرګندو مصادیقو د حرامو څخه دی.

## رشوت د احادیثو په روایاتو کې:

رشوت په سنت او روایاتو کې په دوه ډولو راغلی دی. یو ډول کې یې د رشوت عاملان د لعن موارد ګرځولي او بل ډول روایاتو کې رشوت د سحت، کفر، شرک او غلول (ټګي) سره یاد شوی دی.

د اول ډول له روایتونو ځینې دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ "لعن الله الراشي و المرتشي فی الحکم" (۱)
۲ـ "لعن الله الراشي و المرشي و ما بینهما عیشي" (۲) یعنې خدای تعالی په رشوت ورکوونکي او رشوت اخستونکي او د دوی ترمنځ واسطې باندې لعنت کړی دی.
۳ـ "لعن الله الراشي و المرشي و الراش الذي عیشي بینهما" (۳)
دې برخه کې روایات تواتر ته رسیدلي، چې په سند او دلالتونو کې یې کزمه خبره نشته. په رشوت ورکوونکي رشوت اخستونکي او د دواړو ترمنځ واسطه باندې خدای تعالی لعنت کړی دی.
له لعنت منظور به دا ډول روایاتو کې، چې رشوت سره ارتباط لري د لعن کلمه په قرآن شریف کې خپلو مشتقاتو سره ۴۱ ځلې تکرار شوی ده او په دې ټولو مواردو کې لعن له کفر، ظلم، دروغ، قتل، فتنه .... سره مل شوی دی لکه:
"لعن الذین کفروا من بني اسرائیل" (۴) یعنې د بني اسرائیلو کافرانو باندې لعنت شوی دی.
"الا لعنت الله علی الظالمین" (۵) یعنې د خدای لعنت دی په ظالمانو باندې.

۱. شیخ عباس قمي، سفینة البحارج ۳/ ۳۲۰.
۲. ابن حزم، المحلی ج ۹ / ۱۵۷.
۳. عبدالفواد عبدالباقي المعجم المقدسي.
۴. سوره رعد / ۲۵.
۵. مائده / ۱۳.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



"یفسدون فی الارض اولائک لهم العنة" (۱) یعنې ځمکه کې فساد کوي پر دوی دې لعنت وي.

دوه یم ډول روایتونه:

دا ډول روایات رشوت د سحت له مصادیقو ګڼي او له هغه په کفر، شرک، غلولو او خیانت تعبیر کوي، چې دا روایاتونه اکثره د شیعیه وو په روایتي مجامعو کې دي.

دا ډول روایاتو پسې معمولاً وروسته د رشوت له کلمې د (فی الحکم) قید راغلی دی، چې رشوت مقید په قضاوت د قاضي پورې کوي، چې له دې ډول روایتو ځینې دا دي:

۱ـ پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "اباکم و الرشیوه فانها محض الکفر و لا یتم صاحب الرشوة ریح الجنة" (۲) یعنې له رشوت پرهیز وکړئ، چې محض کفر دی او د رشوت عامل به جنت بوي نه کړي.

۲ـ سماعه له امام صادق (رح) روایت کړی، چې فرمایلي یې دي: "السحت انواع کثیرة ... منها اجرا الزانیة و ثمن الخمر، و اما الرشا فی الحکم فهو الکفر باالله العظیم" (۳) یعنې سحت حرام او په څو ډوله دی. له هغې جملې د زنا کارې ښځې مزدوري، د شرابو بیه او رشوت کفر په خدای تعالی پورې دی.

---

۱. کنز العمال ج ۲ / ۱۲.
۲. وسایل الشیعیه ج ۱۷ / ۹۲.
۳. علامه علي، کشف الراد فی تجرید الاعتقاد، ص ۴۵۴.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې روايتونو کې له کفر مراد اصطلاحي يعنې عملي کفر دی نه عقيدتي يعنې د ګناه غلظت رانښيي، چې د رشوت په عمل يې د خدای له فرمان سر غړولی يا په دې کار کولو رانښيي، چې په حلاله طريقه روزي نه مومي نو په حرامو لارو يې لاس پورې کړی او دا يو ډول بې اعتقادي د خدای تعالی په رازقيت باندې، که څه هم د خدای تعالی په رازقيت عقيده لري، خو بايد په عمل کې هم ترې منکر نه شي.

د شرک معنا :

همدارنګه شرک عبارت دی له اعتقاد په دې، چې څوک د خدای تعالی په ذات، صفاتو او افعالو کې (العياذ بالله) شريک وګڼي، اما دلته مراد له شرک د ګناه غلظت دی نه اصطلاحي او عقيدوي شرک، نو څرګنده شوه، چې رشوت له داسې شدت او تاکيد چې خدای تعالی او رسول الله باندې کفر بلل شوی دی او حتی تر دې، چې له خدای تعالی سره د جنګ کولو په منزله کې دی هم لوړ او بد دی.

## رشوت په اجماع کې :

اسلامي فقهاوو د رشوت د تحريم په برخه کې اجماع کړې ده. ويلي يې دي: "اجمع اهل الاسلام علی تحريم الرشا فی الحکم" [1] يعنې مسلمانانو په

۱. محقق کرکي علی بن الحسين، جامع المقاصد فی شرح القواعد انتشارات ال بيت ج ۴ ص ۲۵.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجماع د رشوت په حرمت حکم فرمايلی دی او هم يې ويلي دي : "وهي حرام بالاجماع" [۱] يعنې رشوت په اجماع حرام دی.

د رشوت په حرمت سربېره، چې په کتاب الله، سنت رسول الله او اجماع د امت باندې حرام دی، د رشوت په ورکولو کې مرسته او کومک هم حرام دی لکه چې خدای تعالی فرمايلي دي :

"ولا تعاونوا علی الاثم و العدوان" [۲] يعنې رشوت ورکوونکی هم گناه کار دی؛ ځکه چې رشوت ورکول په گناه او دښمنۍ باندې مرسته ده. نو سربېره په رشوت اخيستونکي، رشوت ورکوونکی هم گناه گاريږي. لکه چې پېغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : "لعن الله الراشي و المرتشي" [۳] يعنې په راشي او مرتشي لعنت دی، حتی چې د دوی ترمنځ واسطه کوونکی هم گناه گار دی، چې د حرمت دلايل به يې د رشوت ارکان عنوان لاندې راشي.

## د رشوت ارکان :

د رشوت ارکان څلور دي :

۱ـ راشي.

۲ـ مرتشي.

۳ـ رايش.

۴ـ د رشوت مال.

---

۱. محمد بن علی شوکانی، سيل الاوطار بن احاديث سيد الاخيار بېروت ج ۱ ص ۲۱.
۲. مائده / ۲ سيد علي رياض المسائل فی بيان الاحکام بالدلائل انتشارات ال بيت ج ۱ / ۵۰۵.
۳. محمد حسن نجفي اصفهاني، جواهر الکلام ج ۴ ۵۲۲.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱ـ د رشوت لومړی رکن راشي (رشوت ورکوونکی):

د رشوت حرمت راشي، مرتشي او د دوی ترمنځ واسطې کولو والا ته دی، خو د ضعف د شدت له مخې ځينې حالاتو کې توپير کوي. وګورئ، چې د رشوت حرمت مرتشي ته د اطلاق عموميت لري. حال دا، چې ځينې مواردو کې د راشي له خوا رشوت ورکول د راشي لپاره جائز وي لکه، چې د حق حاصلولو لپاره يې بې له رشوت ورکولو بله هيڅ لاره نه وي؛ نو د خپل حق د حصول لپاره رشوت ورکوونکی نه ګناه ګاريږي، چې دا موضوع په لاندې ډول مخې ته راځي:

### د حق حاصلولو لپاره رشوت ورکول:

محمد حسن اصفهاني نجفي په جواهر الکلام فی شرح شرائع الاسلام کې راوړي دي چې: "نعم لو کان التوصل بها الی حق قد توقف علی ذالک لم ياثم هو و اختص الاثم بالاخذ" يعنې، هو! که حق ته رسيدل رشوت پورې موقوف وي رشوت ورکوونکی نه ګناه ګاريږي، بلکې رشوت اخستونکی ګناه ګاريږي؛ نو څرګنده شوه، چې د خپل حق حاصلول يې بې له رشوت ورکولو بله لاره نه لري. په داسې حال کې رشوت ورکول جواز لري که څه هم اخستونکي ته يې اخيستل حرام دي.

همدارنګه مبسوط کې راغلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ان کان لاجراء منه علی واجبه لم یحرم علیه ان یرشو کذلک لانه یستنفذ ماله فیعمل ذلک له و یحرم علی الاخذ" [۱] یعنې که رشوت ورکول د کوم واجب کار لپاره وي په دغه قصد حرام نه دی ځکه چې دی په دغې وسیلې خپل مال ته له تلف نجات ورکوي. که څه هم رشوت اخیستونکي ته حرام دی (قاضي وي که د دولت بل کوم کارمند یامصلح).

او المغني ابن قدریه ویلي دي "ان رشاه لیدفع ظلمه او یجریه علی واجبه فقد قال: عطا و جابر بن زید و الحسن لا باس به" یعنې په دې قصد، چې ظلم له ځان نه دفع کړي یا خپل واجب کار روان کړي.

یو شمېر فقهاوو لکه عطاء جابر بن زید او حسن ویلي دي، چې باک نه لري.

په سنن کبری کې راغلي دي: "عن وهب لیست الرشوة التی یا ثم فیها صاحبها بان یرشوه فیدفع عن ماله و دمه انما التي تاثم فیها ان ترشو لتعطي ما لیس لک" [۲] یعنې له وهب روایت دی: هغه رشوت، چې ورکوونکی یې ګنهګارېږي، دا نه ده، چې د رشوت په ورکولو دا سې څه په لاس راوړي، چې ستا نه وي.

ابن حزم ویلي دي: که څوک وتوانېږي، چې بې له رشوت ورکولو ظلم له خپل ځان دفع کولای شي د یوه فلس په اندازه رشوت ورکول هم جائز نه دي، خو که د ظلم له دفع کولو ناتوانه وي او د حق د تحصیل لپاره غیر له رشوت ورکولو

---

۱. جواهر الکلام مخکینی مرجع ج ۴ ص ۱۳۱.
۲. سنن کبری سابق ج ۱۰ ص ۴۳۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله لار نه لري خدای تعالی یې د دې آیت شریف په دلیل "لا یکلف الله نفساً الا وسعها" دی، نه نیسي.[۱]

او محقق طبا طبایي لیکلي دي: که د حق په لاس راوړل یې له رشوت ورکولو ممکن نه وي د رشوت ورکول په کې جائز دي ځکه چې د دې فقهې قاعدې (الضرورات تبیح المحظورات) له مخې، چې اضطراري حال حرام او ممنوع څیزونه هم مباح او جایز وي، د هغه رشوت ورکول هم جایز وي.[۲]

د حق په لاس راوړل د ژوند له ضروریاتو دی. هر څوک حق لري، چې خپل حق په لاس راوړي او رشوت ورکول، چې د محظوراتو (ممنوعاتو) له جملې دي حق ته د رسېدلو لپاره یې ورکول مباح کیږي. لکه، چې لوږې او تندې لپاره، چې مرگ سره مخ کیږي. له محرماتو تناول ورته حلال گڼل کیږي.

او محمد حسن نجفي اصفهاني لیکلي دي: "انسان کولای شي، د خپل حق په لاس راوړلو لپاره په رشوت یا په مثل د هغه چې د اختیار په وخت کې د هغو اجرا کول حرام وي، لاس پورې کړی او اجراء یې کړي، ځکه چې د دغه رشوت ورکول د زور له مخې دی او شرعاً او عقلاً په دې حال کې رشوت ورکوونکی د مکره په حال کې دی، چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دې فرمودې له مخې (رفع ما استکرهو علیه) یعنې د هغه عمل گناه چې په زور شوی وي زما له امت پورته شوی یعنې مواخذه یې رفع شوې ده او همدارنگه په حدیث شریف کې راغلي دي، چې: "رفع عن امتی ما لا یطیقون" یعنې زما

---

۱. ابن حزم، المحلی ج ۹ / ۱۵۷.
۲. ریاض المسائل ج ۱ / ۵۰۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له امت تحمیلي گناه لرې شوې ده او کېدلای شي پر دې قول (لا ضرر و لا حرج) قاعده استدلال شي. په دې معنا، چې د حق د تحصیل لپاره رشوت ورکول، چې حرام دي، خو چې غیر له هغه بله لار يې نه وي موجب د ضرر او حرج ده، چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم د (لا ضرر ولا ضرار فی الاسلام) او د (ولا حرج فی الدین) فرمودو له مخې يې حرمت نفي شوی دی. یعنې هغه حکم، چې موجب يې ضرر وي یا يې مکلف په مشقت کې اچوي په اسلام کې وجود نه لري. دا و د رشوت له څلورو ارکانو د لومړي رکن (راشي) په برخه کې لنډ معلومات، چې په پوره ډول وړاندې شو. اوس د رشوت د دویم رکن (مرتشي) په بیانولو پیل مخې ته راځي.

## د رشوت دوهم رکن مرتشي:

مرتشي هغه دی، چې د رشوت پر اخیستلو د شریعت او قانون په خلاف کار کوي. که قاضي وي په ناحقه حکم کوي، که د ادارو کارمند وي د نورو د حقوقو د تضیع موجب ګرځي.

د رشوت اخیستلو په حرمت کې هیڅ اختلاف نشته، د رشوت د دې رکن د حرمت په برخه کې د اثبات دلایل د الله تعالی له کتاب قرآن مجید او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له احادیثو او دامت له اجماع او عقل د رشوت تر نورو ارکانو خورا ډېر دي، او زیات تاکید د رشوت په حرمت د هغه په اخیستونکي پورې تعلق لري او د فقهاوو له فتاواوو لاندې خو دلایل ذکر کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ طوسي ویلي دي "وهو حرام علی المرتشی بکل حال" [۱] یعنې د رشوت اخیستل په هر صورت اخیستونکي ته حرام دي، (بکل حال) کلمه ښیي، چې دا قول مطلق دی.

فاضل مقداد لیکلي دي "و اما اخذها فهو فاعل حرام سواء حکم بحق او باطل للدافع او علیه" [۲] یعنې رشوت اخیستونکی د حرام فعل فاعل دی. که په حق حکم وکړي او که په باطل، که د راشي په ګټه وي یا په نقص د هغه.

شافعي محي الدین د رشوت د حرمت په برخه کې ویلي دي "تفقوا علی تحریم الرشوة علی القضاء بحق او باطل او تعجیلا لقضاء بحق او باطل" یعنې علماوو د رشوت د حکم د تحریم په مورد کې اتفاق کړی. که قضاوت یې په حق وي یا په باطل یا لپاره د معطلولو د قضاوت، په حقه وي یا په باطل د دوی منظور مرتشي دی.

سرخسي ویلي دي : "الرشوه فی الحکم و هو حرام" [۳] رشوت په قضاوت کې حرام دی او (فی الحکم) قید یې قرینه ده چې د دوی منظور مرتشي دي.

ابن قدامه ویلي دي : "و اما الرشوة فی الحکم فحرام بلا خلاف" یعنې رشوت په فیصله او حکم کولو کې بې له خلافه حرام دی.

په مواهب الجلیل کې راغلي دي، چې : "یحرم علی القاضی اخذ الرشوه فی الاحکام یدفع بها حقا او یشهد بها باطلا" [۱] یعنې د قاضي لپاره رشوت

---

۱. شیخ طوسي : المبسوط ج ۸ ص ۱۵۱.
۲. کنز العرفان ۲۸ / ۱۳.
۳. سرخی، المبسوط ج ۲۷/۱۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستل حرام دي، چې د هغه په توګه حق باطل کړي، یا باطل په پښو ودروي.

د فقهاوو له ویناوو څرګندیږي، چې رشوت اخیستل مطلقاً په هر حال کې حرام دی. که په حق حکم وکړي که په باطل، په نفع د رشوت ورکوونکي وي او که د هغه په ضرر وي، چې د قاضي په حکم کې اثر وکړي او که یې ونه کړي، دا و د رشوت دویم رکن، چې څه نا څه شرح شو. اوس د رشوت د دریم رکن بیانول مخې ته راځي.

د رشوت دریم رکن (رایش):

د رشوت دریم رکن (رایش) یعنې هغه د راشي او مرتشي ترمنځ واسطه والا دی، چې د احادیثو په روایتو کې (الماشي بینهما) او په (بینهما یمشي) سره یاد شوی دی.

په مجمع البحرین کې راغلي دي، چې "الساعي بینهما یزید لهذا و یستنقص لهذا و هو الرایش" [۲]

یعنې څوک، چې د رشوت ورکوونکي او رشوت اخیستونکي ترمنځ هاند او هڅه کوي چې د رشوت پیسې زیاتې او کمې کړي هغه ته (رایش) وایي.

په لسان العرب کې راغلي دي: "الرایش الذی یسعی بین الراشی و المرتشی" [۳] یعنې رایش هغه دی، چې د رشوت ورکوونکي او رشوت

---

۱. مواهب الجلیل ج ۸ / ۱۱۵.
۲. مجمع البحرین ج ۱ / ۱۸۴.
۳. ابن منظور لسان العرب ج ۳۲۲/۱۴.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستونکي ترمنځ مصالحه کوي، چې د رشوت په اندازه کې د یو او بل توافق راولي.

زمحشری ویلي دي : "والمراد بالرایش هاهنا الذی یسعی بین الراشی و المرتشی لانه یریش هذا من مال هذا" [۱] یعنې رایش هغه څوک دی، چې د راشي او مرتشي ترمنځ په تلاش کې وي، چې د راشي د مال مرتشي ته رشوت ورکوي.

څرنگه، چې رشوت بد او د ټولنې له کرغېړنو اعمالو څینې دی او غیر له شرعي نهې په عقل او عرف کې یې هم قباحت روښانه دی، د هغو عاملان هاند کوي هغه (رشوت ورکول) پټ وساتي او د لېدونکو له سترگو یې لرې گوښه سرته ورسوي، له دې امله یو شمېر افراد، د واسطې په عنوان د راشي او مرتشي ترمنځ د ارتباطي پله په څېر فعالیت کوي. لومړی د افرادو او د هغوی د مشکلاتو پېژندنه کوي او طرفین یو له بل نه ترس او وهمه لري، له دې امله د رشوت په برخه کې وارد روایتونه سربېره په رشوت ورکوونکي او رشوت اخستونکي د هغوی ترمنځ واسطه باندې هم، چې لعنت ویل شوی دی معلومېږي، چې دا هم یو حرام کار دی گناه ده او ټول احادیث، چې د رشوت ورکوونکي او د رشوت اخستونکي په باره کې راغلي د هغو ترمنځ د واسطو لپاره هم دي، ځکه چې درې واړه د رشوت په کار کې یو بل سره همکاري کوي او هر یو د خپل نقش په اندازه په دې ستره گناه کې شریک دی.

---

۱. زمحشری، الفائق فی غریب الحدیث ج ۲ / ۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رشوت څلورم رکن د رشوت مال :

د رشوت څلورم رکن د رشوت مال دی، چې رشوت ورکوونکی یې خپل باطل مقصود ته د رسېدو لپاره یې رشوت اخیستونکي ته ورکوي. په دې برخه کې، چې څه د بحث وړ دی دا دی :

آیا هغه څه، چې رشوت ورکوونکی یې د رشوت په ورکولو لاس ته راوړي د رشوت عنوان لاندې راځي که نه؟ مثلاً څوک چې قاضي ته رشوت ورکړي، چې په نفع یې حکم وکړي، او له دې لامله دې رشوت یوه اندازه پیسو ده پورې تعلق ومونده، ایا دغه پیسې حرامې دي که نه؟ دا مسئله که څه هم فقه کې مطرح شوې نه ده، خو ځواب کې یې باید وویل شي : دې مسئله کې که د راشي په نفع په باطله توګه حکم وشي او د بل حق تصاحب کړي باید، چې حرام وبلل شي؛ ځکه چې عدواناً د غیر په مال کې تصرف کوي، او داسې تصرف د غیر په مال کې په باطل د مال خوړل دي، چې د دې مبارک آیت له مخې "لا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل" خپل مالونه په خپلو منځو کې په باطله مه خورئ. ځکه، چې نهي ترې شوې ده.

له پورتنیو ذکر شویو مبارکو آیاتو او سپېڅلو احادیثو او د اسلامي امت له اجماع او معقولو دلایلو څرګندیږي، چې د رشوت خوړلو مسئله په اسلام کې دومره بده او قبیحه ده، چې د کبیره ګناهو په لړ کې ځای نیسي؛ نو له دې لارې که په نوم د هدیه، تعارف، حق الزحمه د پښو کرایه، انعام او داسې په نورو نومو له کوم څیز استفاده وشي هغه هم رشوت بلل شوی، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غولوونکو عبارتو او عناوینو د رشوت په ماهیت کې تغییر نه راځي، په هر صورت له دې لارې، چې پیسې یا کوم شیز اخستل کیږي حرامې او نامشروعې دي.

رشوت ورکول او رشوت اخیستل د اجتماعي عدالت مهم مانع کوونکی دی او قانون ماتونه منځته راولي او منحرف خلک د خپلو شومو هیلو د ترسره کولو لپاره د رشوت په توګه قانون ماتوي. نو هر څوک د رشوت قباحت باندې پوهیږي، له دې امله د عقل او نقل په مقتضی د هر سالم عقل څښتن متقي انسان د رشوت له داسې مهم خطر ځان ژغوري او مجادله ورسره کوي، دا ځکه، چې د رشوت په بلا اخته کسان د خدای تعالی د قهر، غضب او لعنت مورد ګرځي، دنیا کې یې دغه بې تربیه ګي امکان لري، چې نسل کې یې هم پیدا شي او په آخرت کې به په ډول ډول عذابونو وکړول شي. دا ځکه، چې د چا په وینه، غوښه او پوستکي کې حرام مال ګډ شي په معنوي، بدني او روحي روزنه کې یې بدې اغیزې کوي او د انسانیت له لارې بې لارې کیږي، غوښه، پوستکی او هډوکي یې له حرامو جوړیږي او د چا وجود چې له حرامو جوړ وي معنویت او ښو اخلاقو ته تمایل نه ښیي. لکه، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "کل لحم نبت عن الحرام فالنار اولی به" [۱] یعنې هره غوښه، چې له حرامو جوړه وي اور ورته غوره دی.

۱. مهدی تراقی، جامع السعادات ج ۲/۱۲۵-۱۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رشوت په توګه ټولنیز نظام ګډوډیږي، د اقتصاد سالم بنیادونه او د ټولنې ټینګې اړیکې سستوي، بدې او ناکاره اړیکې د ذلت، خوارۍ، ظلم، چل، فریب روحیات رواجوي.

څرنګه، چې رشوت شریعت کې حرام دی. شرعاً یې حلال ګڼل سړی کفر ته باسي، نو رشوت، چې داسې یو ناوړه او کرغېړن کار دی، چې د حلال ګڼلو په صورت کې یې مرتکب کافر کیږي لازم دي، چې په کلکه ترې ډډه او ځان ژغورنه وشي او ټینګې تقوی ته مخ واړول شي.

## د رشوت مالکیت او ضمان:

څرنګه، چې د رشوت مال حرام دی له دې کبله یې د رشوت اخیستونکي مالکیت په کې نه صحیح کیږي. بناء پر دې رشوت اخیستونکی مکلف او موظف دی، چې هغه د رشوت مال بېرته خپل خاوند (مالک) رشوت ورکوونکي ته ورکړي او که د رشوت عین مال تلف شوی وي که مثلي وي د هغه مثل دې ورکړي او که قیمتي وي د هغه قیمت دې رشوت ورکوونکي ته ورکړي، په هر حال رشوت اخیستونکي باندې واجب دي، چې د رشوت مال خپل څښتن ته بېرته ورکړي؛ ځکه، چې د رشوت د مال ملکیت د هغه له څښتن (رشوت ورکوونکي) سره پاتې دی.

نو په حرام څیز، چې د غیر لاس مستقر شي د "علي الید ما احدث حتی تودی" قاعدې له مخې یې ضامن دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن قدامه ليکلي دي : "فاذا ارتشی الحاکم او قبل هدية ليس له قبولها فعليها ردها الی اربابها" [۱] که حاکم او قاضي رشوت واخلي او يا هديه قبوله کړي هغه رشوت او هديه دې خپل څښتن ته رد کړي، د دې لپاره، چې دا مال يې په ناحقه او بې له شرعي مجوز اخيستی دی. همدارنګه د (العقود تابعة المقصود) يعنې عقدونه د مقصود تابع دي نو که څوک له کوم عقد لکه (هبه) فاسد او غير شرعي قصد ولري دغه عقد يې هم فاسد دی، له دې امله که د معاملې دواړه خوا د عقد د خپلې معنی قصدونه لري، بلکې له لفظ د بلې معنا قصد ولري يا ايجاب او قبول د هزل او شوخۍ په قصد وکړي. دغه معامله حقيقت نه پيدا کوي، نو که معامله د کوم حرام کار متضمنه وي لکه د انګورو بيع د مسکرو مشروباتو جوړولو په قصد، دغه معامله باطله او حرامه ده ځکه چې له معاملې د حرام فعل قصد شوی دی.

نو عقود، چې د هبه، وقف، بيع، عاريت او ... په لفظ د رشوت ورکولو په قصد اجرا شي يو هم د دې عقودو حقيقت نه پيدا کوي. له دې امله د رشوت مال د هغه د څښتن (راشي) په ملکيت کې باقي دی، او رشوت اخيستونکی، چې د چا مال مثلاً د هبه په عنوان قبض او اخيستی وي بايد هغه خپل څښتن ته بېرته ورکړي او که هغه يې تلف کړی وي د هغه مثل يا قيمت دې ورکړي بناء پر دې که د چا له خوا رشوت د هبه، بيع، وقف يا بل څه په نوم واقع شي بيا يې هم خاوند ته په بېرته ورکولو ملزم دی.

---

۱. جواهر الکلام ج ۴/ ۱۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محاباتي بيع په ترڅ کې رشوت:

محابات د (حبو) له مادې د هديه، تحفه، سوغات، ډالۍ، د طرفينو عطا او د ورکړې معنا لري، او يو له مشتقاتو يې د (حبون) ګړه ده، چې فقهي اصطلاح کې د ګوتې ساعت (ګړۍ) او داسې د بل څيز معنا پورې اختصاص لري، چې پس له مرګ يې مشر زوي پورې اختصاص مومي.

او محاباتي بيع هغه ده، چې: څوک يو څيز له خپل اصلي قيمت په کم قيمت وپلوري يا يې واخلي، چې په مقابل کې يې هغه خپل مورد نظر هدف ته ورسيږي نو که محاباتي بيع د رشوت په قصد وي څرنګه، چې حرام اثر پرې مرتب شوی وي ځکه هغه بيع باطله وي. لکه د لس زرو افغانيو قيمت والا څيز، چې په قاضي يا په بل کارمند په پنځه زره افغانۍ وپلورل شي، چې له دې لارې د هغه رضايت ترلاسه کړي، او په نفع يې حکم ورکړي يا يې بل کار سرته ورسوي. څرنګه، چې دا ډول معامله د رشوت په قصد سرته رسېدلې وي باطله ده ځکه چې قصد د عقد اصلي رکن دی او څرنګه، چې قصد په دا ډول معاملو کې د حرام هدف لپاره وي معامله هم حراموي، او دا، چې د معاملې قصد حقيقت نه وي موندلی اصلاً معامله نه وي شوې نو فقها دا ډول بيع حرامې باطلې او د رشوت له مصاديقو ګڼې ليکلي يې دي:

"و مما يعد من الرشوة او يلحق بها المعاملة المشتملة على المحاباة" [۱]

يعنې له هغه څيزو، چې رشوت ګڼل کيږي يا په رشوت پورې ملحق کيږي

---

۱. شيخ مرتضى المکاسب ص ۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



محاباتي معامله ده، دوی ویلي دي که محابات په دې قصد اجرا شي، چې قاضي د ده په نفع حکم وکړي یا داسې بل شرط یې د عقد په ضمن کې نظر کې نیولی وي، هغه رشوت او حرام دی؛ او سربېره پر دې، چې حرام دی، فاسد هم دی، چې تملیک او تملک په کې نه راځي، په هغه منصوصي دلایلو، چې د راشي په ملکیت کې د رشوت د مال په بقا دلالت کوي، دا ډول معاملې باطلې دي.[۱]

د فقه په کتاب القضاء کې راغلي دي : چې په دې معامله کې هدف د قاضي د نظر جلبول دي، چې د حکم په صادرولو کې د ده نفع په نظر کې ونیسي او هر عقد ، چې قصد یې د حکم په صادرولو کې د قاضي د توجه جلبول وي د رشوت له اقسامو ګڼل کیږي.[۲]

www.melitahrik.com 0777 400 116

۱. جواهر الکلام ج ۲۲ / ۱۴۹.
۲. سید عبدالکریم موسوي اردبیلي، فقه القضاء، انتشارات مکتب الاعلام الاسلامی ص ۳۴۵-۳۴۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په محاباتي بيع کې د اهل سنت د فقهاوو نظر:

ابـن قدامـه ويلـي دي : "لا ينبغـي لقاضـي ان يتـول البيـع و الشـراء بنفسـه"[۱] قاضي ته نه ښايي، چې په خپله پلورل او رانيول وکړي په دې دلايلو.

۱ـ پېغمبر صلى الله عليه وسلم فرمـايلي دي : "مـا عـدل و ال اتجرفـى رعيتـه ابدا" يعني اسلامي والي او حاکم، چې په خپله رعيت سره پلورل او رانيول کوي هيڅکله يې عدالت نه دی کړی.

۲ـ دی (قاضي) خلک پېژني او محاباتي بيع ورسره کوي.

۳ـ قاضي د خلکو له خدمت وځي، قاضي بايد د قضا ځای ته اول وخت کې ورشي د خلکو مشکلاتو ته رسېدنه وکړي، نه دا چې په معـاملو او نـورو کـارو پسې وي لکه چې ابوبکر رضي الله عنه تصميم ونيو، چې د معاملو لپاره بازار ته ولاړ شي. اصحابو ورته وويل: دا کار تا د خلکو له کار کولو وباسي. ده ورته وويـل: نشـم کـولای، چـې عيـال مـې بـې مصـرفه پرېـږدم او ضـايع يـې کـړم. نـو اصحابو رضي الله عنهم ورته له بيت المال مصرف وټاکه نو دې له معاملو کولو منصرف شو.[۲]

۴ـ لـه امـام ابوحنيفـه رحمـة الله عليـه نقـل شـوي دي، چـې قاضـي تـه معاملـه مکـروه ده. د پلورلـو او رانيولـو لپـاره دې وکيـل ونيسـي. ځکـه، چـې خلـک

۱. المغنى ج ۱۱ ص ۴۳۹.
۲.همدغه مرجع المغني ج ۱۱ ص ۴۳۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي وګوري هغه پېژني. په هماغه دليل د ابوبکر رضي الله عنه معامله ورسره کوي. [۱]

www.melitahrik.com
0777 400 116

۱. المغني ج ۱۱ ص ۱۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رشوت ډولونه :

رشوت دوه ډوله دی یو مالي او بل غیر مالي :

مالي رشوت : مالي رشوت هغه دی، چې یو عین شی په رشوت ورکړل شي، چې تفصیل یې پورته مباحثو کې مفصل یاد شو او غیر مالي رشوت په لاندې ډول بیانوو:

## غیر مالي رشوت :

رشوت په مال پورې منحصر نه دی، بلکې غیر مالي اعمال لکه اقوال هم رشوت کېدلای شي. د مثال په ډول څوک چې د قاضي د نظر د جلبولو لپاره د هغه ستاینه کوي، تکریم او تعظیم یې کوي، یا یې په نفع خبرې او تبلیغ کوي، دا ځېزونه حرام دي یا یې کارونه کوي. ما یحتاج یې کور ته اخلي، موټر یې ترمیموي... دا ټول په رشوت کې راځي، له دې کبله محقق یزدي ویلي دي : رشوت کله مال وي لکه عین او منفعت او کله د قاضي لپاره عمل وي لکه د کپړو جوړول، د کور اعمار او کله قول وي لکه ستاینه او مدح، چې زړه یې ځان ته راواړوي او په نفع یې حکم وکړي او کله فعل وي، چې د قاضي ما یحتاج پوره کړي، چې دا ټول حرام دي.[۱]

## د اهل سنت او جماعت له نظره د غیر مال رشوت :

په اهل سنت او جماعت کې هم غیر مالي رشوت حرام ګڼل شوی دی.

---

۱. شوکاني نیل الاوطار بیروت ۱۹۷۳ ج ۲۲۲/۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوکاني ويلي دي: په اسلام کې هر څيز، چې فايده ولري مال وي که منفعت يا کار، چې د رشوت په قصد وي حرام دی، پيسې وي که جامې لکه، چې د خيبر يهوديانو عبدالله رواحه ته پېشنهاد کړی و، او که خوراکي څيزونه وي لکه، چې د منهې تعارف عمر بن عبدالعزيز ته شوی و او همدارنګه هديه، قرض، عاريت، چې د رشوت په نيت وي يعنې چې کومه ورځ به قاضي يا بل کارمند ده سره په ناحقه مرسته وکړي دا رشوت او حرام دی. [۱] همدارنګه په همدې کتاب مجمع البحرين کې راغلي دي، چې: "ما يعطيه الشخص الحاکم وغيره ليحکم له و يحمل على ما يريد" [۲] يعنې رشوت هغه څيز دی، چې فرد يې حاکم يا بل کارمند ته ورکوي، چې په نفع يې حکم وکړي يا د ده په ميل عمل وکړي، دلته د (وغيره) لفظ نه عموميت څرګنديږي. يعنې، چې غير له قاضي بل چا ته رشوت ورکول هم رشوت او حرام دي او د (و يحمله على ما يريد) جملې نه معلوميږي، چې غير له قضاوت نورو امورو کې هم د مال ورکړه رشوت دی.

ابن اثير د رشوت په برخه کې ويلي دي: "الوصله الى الحاجة بالمصانعة" [۳] يعنې رشوت هغه دی، چې څوک د يو شي په ورکولو خپلې غوښتنې ته ورسيږي، دی تعريف کې هم د قاضي قضاوت او د نورو ادارو او مؤسسو کړنې شاملې دي.

۱. فخر الدين مجمع البحرين ج ۱ / ۱۸۴.
۲. قيوی، مصباح المنير ج ۱ / ۲۲۲
۳. زمحشری، الفايق فی غريب الحديث ج ۲ / ۴۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثاني شهيد ويلي دي: "انفق المسلمون على تحريم الرشوة على القاضی و العامل" [۱] يعنې ټول مسلمانان د رشوت په تحريم قاضي او عامل ته اتفاق لري، د رشوت دغه حرمت، چې د قاضي لپاره دی همدا ډول د هر كار سند لپاره هم دی.

## هديه (د هديې مقصد او ډولونه):

د هديه پېژندل گلوي:

هديه (سوغات، ډالۍ): د مينې او لورونې د ايجادولو او د گرانښت د ښرگندولو لپاره، چې خلك يو بل ته كوم څيز وركوي هغه ته هديه (بخشش، سوغات، ډالۍ) وايي: خو كه څوك هديه قاضي باطل مقصود ته د رسېدو لپاره قاضي ته وركړي، دې برخه كې امام صادق له پېغمبر صلى الله عليه وسلم داسې روايت رانقل كړى دی:

"الهدايا على ثلاثة اوجه: هدية مكافات و هدية مصانعة و هدية لله عز و جل" [۲] يعنې هديه درې صورته لري. يوه د انعام او سوغات په صورت، بله هديه د رشوت په صورت دريېمه هديه د خدای تعالی لپاره.

۱ـ د مكافات هديه: له امام صادق رحمة الله عليه روايت دی، چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "نهادوا و تحابوا" [۳] يعنې يو بل ته هديې وركړئ، چې مينې مو زياتې شي او ابن عساكر له عائشه رضي الله عنها

---

۱. نيل الاوطار ج ۴ / ۲۲۸.

۲. كنزل العمال ج ۲/ ۱۱۰.

۳. كنز العمال ج ۲ / ۱۱۲.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



روایت کړی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : "تهادوا، تزدادوا حبا" [۱] یو بل ته هدیې ورکړئ، چې یو بل باندې مو گرانښت زیات شي.

۲ـ د مصانعې هدیه : یعنې د طرفینو سازش د یوه داسې باطل کار ته د رسېدو په قصد، چې قانوني ممانعت ولري. د رشوت په صورت سرته رسېږي او (فرهنگ نوین) مصانعه د رشوت په معنا ترجمه کړی ده ځکه، چې دا ډول هدیه د رشوت شبیه یا په خپله رشوت دی، چې صورت یې په نوم کې یو له بله توپیر لري، خو د نوم تغییر د ماهیت په تغییر کې د اشیاوو او د هغو په احکامو کې به تاثیر نه لري.

دا ډول هدیې په مرکزو، مؤسسو، سازمانو کې، چې حکومتي مسؤلیتونه لري په هغو کې سرته رسیږي، د دې ډول هدیې په برخه کې له نبي صلی الله علیه وسلم روایتونه رانقل شوي دي، چې له هغې جملې "هدیة الامراء غلول" [۲] یعنې امرانو ته هدیه ورکول خیانت دی او "و هدایا العمال سحت" [۳] د دولت کارمندانو ته هدیه ورکول حرام دي او "هدایا العمال حرام کلها" [۴] یعنې هغه هدیې، چې د دولت کارمندانو ته ورکول کیږي، ټولې حرامې دي. د

۱. کنز العمال ج ۲ / ۲۲۲.
۲. جواهر الکلام ج ۲۲ / ۱۴۷.
۳. کنزل العمال ج ۲ / ۱۱۲.
۴. بیهقي، سنن کبری ج ۱۰ / ۱۳۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو روایتونو په اساس فقهاوو په دا ډول هدیه د حرمت حکم کړی دی او عموماً هغه رشوت یا د رشوت حکم کې بولي.

له حضرت علي رضي الله عنه روایت دی، چې : "اخذ الامر الهدیة سحت و قبول القاضی الرشوه کفر" [۱] یعنې امرانو ته هدیه اخستل حرام دي او قاضي ته د رشوت قبلول کفر دی.

## د رشوت او مصانعې توپیر :

رشوت یو ډول معامله او قرارداد دی، چې د راشي او مرتشي ترمنځ، چې راشي د رشوت په ورکولو قرارداد کوي او مرتشي (قاضي یا عامل) به د هغه په نفع حکم کوي او باطل کار کوي. او مصانعه هدیه کې قرارداد نه وي خو اصلي هدف یې دا وي، چې د قاضي یا عامل توجه ځان ته مایله کړي، چې خپل باطل منظور ته ورسیږي. [۲]

فقهاوو مصانعه هدیه حرامه او د رشوت په حکم کې ګڼلې ده، ځکه چې منظور یې په کې د قاضي دتوجه جلبول وي، چې د هغه په نفع حکم وکړي.

په فتح الباري کې راغلي دي چې : "الذین یهدي لا یخلوا ان یقصدون المهدي الیه اوعونه او ماله" یعنې څوک، چې هدیه ورکوي دغه درې هدفونه لري :

۱ـ چې هغه ځان ته دوست کړي.

---

۱. کنز العمال ج ۲ / ۱۱۲.

۲. مسالک الافهام ج ۲ / ۴۰۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ کومک او مساعدت ورسره وکړي.

۳ـ یا غواړي د همدې هدیې په مقابل کې لا زیات مال په لاس راوړي نو غوره هدیه هماغه لومړی ډول ده، چې د مسلمانانو په منځ کې دوستي پیدا شي، او دریم ډول هدیه جایزه ده او دوه یم قسم هدیه پر دوه ډوله ده :

۱ـ چې هدیه د کومک په اطاعت او د ثواب کار په قصد وي دا مستحب ده.[۱]

قدامه ویلي دي : "هو لا یقبل هدیة لان الهدیة یقصد بها فی المغالب استعانة قلبه لیعتنی به فی الحکم فتتنبه الرشوه" [۲] یعنې قاضي نه شي کولای، چې هدیه قبوله کړي؛ ځکه، چې له هغو یې قصد دا وي، چې د قاضي زړه په لاس راوړي، چې د ده په نفع حکم وکړي او دا د رشوت غوندې ده.

او مسروق رحمه الله ویلي دي : "اذا قبل القاضي الهدیة اکل السحت"[۳] یعنې که قاضي هدیه قبوله کړي حرام یې خوړلي دي او که چا مخکې له قضا هدیه ورکوله وروسته له قضا هم هغه قبلولې شي خو غوره دا ده، چې له تهمت ساتلو لپاره هدیه قبوله نه کړي، چې د رشوت خوړلو له تهمت په امان پاتې شي. له امام ابوحنیفه رحمة الله تعالی علیه او له یارانو یې روایت دی، چې: قاضي ته به ذکر شویو اوصافو د هدیې قبلول مکروه دي نه حرام.

۱. فتح الباري فی شرح صحیح البخاری ج ۵ / ۱۳۹.
۲. المغني و شرح الکبیر ج ۱۱ / ۲۳۷.
۳. المغنی و شرح الکبیر ج ۱۱ / ۴۳۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په مواهب الخليل کې راغلي دي، چې: علماء د هديې قبلولو په کراهت کې اختلاف نه لري، او دا د امام مالک رحمة الله عليه نظر هم دی.

همدې کتاب کې راغلي دي، چې : "لا يحوز لهم قبول الهدية من احد الحضمين مادامت الحكومة ما بينهما" [۱] يعنې قضاتو او کارمندانو ته د دعوی له دواړو خواوو د هيچا هديه جواز نه لري، چې دعوی يې ورسره دائره او دوران لاندې وي؛ ځکه، چې دا هماغه رشوت دی.

ابن ابي الحديد نقل کړی دی، چې يوه سړی حضرت عمر رضي الله عنه ته هميشه د ځلور کلنې اوښې ورون د هديې په ډول ورووړ خو يو وخت، چې له دغه سړي سره د چا دعوی ورته راغله مقابل سړي ورته وويل : زمونږ ترمنځ داسې فيصله وکړه، چې د اوښې ورون دې جدا کاوه. عمر رضي الله عنه ويلي دي له هغې ورځې وروسته همېشه د عدل په برخه کې شکمن وم ترڅو چې وويړېدم خپلو ټولو کارمندانو ته مې وليکل، چې : هديه مه قبلوئ، چې هديه تاسو ته هماغه رشوت دی. پس له هغه مې د هيچا هديه قبوله نه کړه.

## په قضاوت اجره اخيستل :

شيخ په نهايه کې ويلي دي : غوره دا ده، چې په ټولو صورتونو کې دې قاضي د اجرې له اخستلو ځخه ځان وساتي. [۲]

۱. مواهب الجليل ج ۸ / ۱۱۳.
۲. طوسي، نهايه رقم چاپ ص ۳۲۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جواهر کې راغلي دي "و التحقيق عدم جواز اخذ العوض منه مطلقاً" [۱] يعنې تحقيق دا دی، چې د قضاوت اجره اخستل له متخاصمينو يا له دريمګړي په عيني او کفايي هر ډول قضاوتو کې محتاج وي او که نه وي جواز نه لري؛ ځکه، چې قضاوت الهي منصب دی او په هغه کې اجره اخستل جواز نه لري "قل لا اسئلکم عليه اجراً الا المؤدة فی القربی" [۲] يعنې ووايه ای پېغمبره! چې د نبوت اجر له تاسې نه، نه غواړم غير له دوستۍ د کورنۍ مې او قضاوت يو له امورو د پېغمبرۍ دی.

په حدايق کې راغلي دي، چې "والاصح المنع مطلقاً الا من بيت المال على جهة الارتزاق" [۳] يعنې صحيح دا ده، چې په فيصلو د اجرت اخيستل مطلق ممنوع دي يعنې که له سلطان وي او که له متخاصمينو، هو که له سلطان ځنې دمصرف لپاره وي اشکال نه لري.

ځينې علماوو لکه علامه حلي ويلي دي، چې که قاضي د امام له طرفه وټاکل شي او قاضي تمکن او غني وي اجرت اخيستل په قضاوت ورته جواز نه لري، خو که قاضي محتاج وي اقرب دا ده، چې د اجرې اخيستل ورته مکروه دي.

## د قاضي د ارتزاق تعريف :

۱. جواهر الکلام ج ۲۲ / ۱۱۲.
۲. شوری / ۲۳.
۳. الحدائق الناصره ج ۱۸ / ۴۱۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مفتاح الکرامه کې راغلي دي، چې: "والمراد بالرزق ما کان من بیت المال من المصالح منوطاً بنظر الحاکم" [۱] یعنې رزق عبارت له هغه شیز دی، چې اسلامي حاکم یې له بیت المال نه د مصالحو لپاره لګوي، چې اندازه یې د حاکم په نظر پورې اړه لري.

ثاني شهید ویلي دي: "اما الارتزاق فمنوط بنظر الحاکم لا یقدر بقدر" [۲] یعنې ارتزاق د حاکم په نظر پورې اړه لري، ټاکلی مقدار او اندازه نه لري.

## د اجورې او رزق (تنخوا) توپیر:

د اجورې او رزق ترمنځ توپیرونه په لاندې ډول دي:

۱ـ اجرت هغه مال ته وایي، چې د یوه کار د اجرا کولو لپاره ورکول کیږي او د رزق (تنخوا) په مقابل کې د کوم عمل اجرا کول شرط نه وي.

۲ـ رزق د حاکم نظر پورې اړه لري او اجرت د معاملې طرفینو پورې اړه لري.

۳ـ اجرت معمولاً د عقد د صیغې له اجرا سره وي او رزق (تنخوا) سره د عقد صیغه نه وي.

۴ـ ارتزاق له بیت المال تامینیږي او اجرت له شخصي مال ورکول کیږي.

۵ـ په رزق کې نیاز او احتیاج د مرتزق شرط دی خو اجرت داسې نه دی.

## د قاضي د ارتزاق حکم:

---

۱.حسینی عاملی، مفتاح الکرامه ج ۴ / ۹۷.

مسالک الافهام ج ۳ / ۸۴.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قاضي د ارتزاق د جواز په برخه کې د اسلام د ټولو علماوو ترمنځ کوم اختلاف نشته. طوسي په مبسوط کې د قاضي د ارتزاق د جواز دليل د علماوو اجماع ښودلې ده او ويلي يې دي، چې: بيت المال د مسلمانانو د مصالحو لپاره دی او قضاوت د مصالحو له جملې نه، چې د هغو له ډېرو ضروري امورو څخه دی، ځکه چې د هغې په وسيله دعوی ګانې پای ته رسيږي او د خلکو حقوق ورکول کيږي، مظلوم سره مرسته کيږي او ظالم دفع کيږي.

جواهر کې راغلي دي: که د قاضي ارتزاق د حکم په عوض کې نه وي، بلکې د ده د ژوند د اړتياوو د پوره کېدو لپاره وي بيا کوم اشکال نه لري.

او په تحرير الوسيله کې راغلي دي، چې: پر چا، چې قضاوت واجب عيني نه وي د ده لپاره له بيت المال ارتزاق شته دی او که د چا لپاره قضاوت واجب عيني وي، د قاضي د احتياج په صورت کې د ده ارتزاق له بيت المال جائز دی او د قاضي د غنا او عدم احتياج په صورت کې له اشکال خالي نه دی، که څه هم اقوي لوری يې د ارتزاق جواز دی.

نو د قاضي د فقر په صورت کې چې قضاوت ورته متعين وي او که نه وي ارتزاق يې له بيت المال جواز لري او ويلي يې دي: "فالظاهر جواز الارتزاق مع الفقر مطلقاً سواء تعين عليه القضاء ام لا"[1] يعنې محتاج قاضي ته په

---

۱. محمد حسن، کتاب القضاء ص ۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهره له بیت المال ارتزاق جواز لري، قضاوت ورته متعین وي او که نه وي.
په دې دلیل:
قاضي د مسلمانانو په امورواو مصالحو همت کوي او د بیت المال لګښت اصولاً د مسلمانانو د مصالحو لپاره دی لکه قضاء، د قرآن تعلیم، اذان او ...
نور که شارع له بیت المال د ارتزاق جواز ورنه کړي قاضي په عصر او حرج لتاړیږي او په اسلام کې کوم حکم، چې د عسر او حرج موجب شی نشته او سربېره پر دې د لطف له مخې په شارع مقدس لازم دی، چې د ارتزاق اجازه ورکړي، که نه امکان لري، چې قاضي د تنګ لاسۍ لامله لاس په رشوت او اجرت اخیستلو پورې کړي او د امیر المؤمنین د مشهورې مکاتبې په دلیل چې د اوښ مالک ته یې دستور ورکړی و، چې قضاتو باندې مالي توسعه راولئ چې د رشوت اخیستلو بهانه ورته پیدا نه شي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اهل سنت فقهاوو له نظره د قضاتو ارتزاق:

ابن قدامه په مغني کې راوړي دي، چې: "يجوز للقاضی اخذ الرزق"[۱] يعنې د قاضي لپاره له بيت المال رزق اخستل جواز لري او اکثرو لويانو يې جواز صحيح ګڼلی لکه قاضي شريح ابن سيرين، شافعي او د اهل علم اکثرو علماوو.

بل دليل دا، چې دويم خليفه زيد بن ثابت په قضاوت وټاکه. ده ته يې له بيت المال مصرف وټاکه او د ده په وخت کې قاضي شريح ته له بيت المال نه په هره مياشت کې سل درهمه ټاکل شوي وې او کله يې، چې عمار د کوفې د حاکم په توګه وټاکه او عثمان بن حنيف او ابن مسعود يې په قضاوت مقرر کړل، له بيت المال يې هره ورځ يو مږ (ګوسفند) ورته مصرف وټاکه، چې نيم به يې د عمار او نور نيم به يې د عثمان او ابن مسعود وو او کله يې، چې معاذ بن جبل او ابي عبيده شام ته ولېږل هغوی دواړو ته يې وليکل: په خلکو کې د دوی په څېر صالح خلک قضاوت ته نه پيدا کيږي. له بيت المال څخه دوی ته کافي مصرف ورکړئ.

په مواهب الجليل کې راغلي دي: "اما الارتزاق من بيت المال، فان من تعين عليه القضاء و هو غنی عن الارتزاق فانه ينهی اخذ العوض علی القضاء"[۲] يعنې که قاضي ته قضاوت ټاکل شوی وي او دې مصارفو ته اړتيا نه لري نو

۱. المعني و شرح کبير ج ۱۱ / ۳۷۲.
۲. مواهب الجليل، ج ۸ / ۱۱۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حکم مقابل کې عوض اخیستلو نه منع دی، څو مفهوم د دوی د فرمودو داسې دی، چې که قاضي د رزق اخیستلو ته محتاج وي باید رزق اخیستل یې له بیت المال منع نه وي.

شمس الدین سرخسي له حنفي فقهاوو ستر فقیه، د قاضي لپاره له بیت المال ارتزاق جائز ګڼلی او د دوم خلیفه عمل یې بهترین او غوره دلیل بللی ویلي یې دي:

"عن عمر بن الخطاب انه کان یرزق سلیمان بن ربیعه الباهلی عن قضاء کل شهر خمس مائة درهم" [1] یعنې دوم خلیفه سلیمان بن ربیعه باهلی ته د ده د قضاوت لپاره هره میاشت پنځه سوه درهم له بیت المال مصرف ورکول او د خلیفه دا کار غوره دلیل دی پردې چې:

امام له بیت المال نه د قاضي مصرف تامینوي او قاضي، چې هر څومره سروتمند وي خپل مصرف او د خپل عیال مصرف له بیت المال نه اخیستلای شي، هو که د ثروتمندی په صورت کې خپل مصرف له بیت المال وانه خلي د ده لپاره بهتر او غوره دی، په دې دلیل، چې خدای تعالی فرمایلي دي "و من کان غنیا فلیستعففه" [2] سربېره پر دې خپله خلیفه له بیت المال مصرف اخیسته لکه، چې صحابه وو کرامو اول خلیفه ته له بیت الماله مصرف وټاکه او دوه یم خلیفه هم له بیت الماله مصرف اخیسته.

---

۱. سرخسی، المبسوط ج ۱۲ / ۱۰۳.
۲. النساء / ۶.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رشوت کرغېړن اثرات:

د رشوت خوړلو موضوع يو ستر افت دی، چې له ډېرو پخوانيو زمانو يې نړۍ کې سرايت کړی او په شدت سره مخ په خپرونه کې دی، د رشوت خوړل اجتماعي عدالت له منځه وړي، قوانين له تطبيق کولو پاتې کوي، ظلم، حق تلفي، بې عدالتي، تبعيض او داسې نور کرغېړن کارونه په ټولنه کې ثبتوي او مرتکبين يې په کبيره گناه اخته کوي. له دې امله د اسلام سپېڅلی مقدس دين رشوت خوړل سخت تقبيح او محکوم کړي دي. ځکه اوس په نړۍ کې دغه بد عمل رسوا او تقبيح شوی دی او د هر چا په نظر کې يې له بد نوم نه کرکه کيږي. خو د رشوت چلوونکو ناولو گناه گارانو د رشوت خپرولو لاس نه دی اخيستی. هغوی د رشوت له بوين نوم تېر شوي اوس يې د نورو نومو په ترخ کې د ځان او هم د بل د غولونې او ټگۍ په توگه سرته رسوي او هغه داسې، چې رشوت خوړونکی او رشوت ورکوونکی له نورو نومونو لکه هديه، سوغات، ډالۍ، تعارف، حق الزحمه، د حساب حق، د لارې کرايه، د وخت اجوره، انعام او داسې نورو گړو او تورو نه استفاده کوي او ځانونه په ناپوهۍ کې اچوي. له دې، چې هيڅکله په هيڅ صورت د رشوت د نوم تغير په نورو ذکر شويو ډول نومونو د هغه په ماهيت کې تغيير نه شي راوستلای.

د هديې په برخه کې د "اشعث بن قبس" قصه د پند وړ ده، چې د علي رضي الله عنه په محکمه کې يې چا سره دعوا لرله نو پر هغه د برياليتوب لپاره يې رشوت کې د علي رضي الله عنه کور ته يو لوښی له خوږې حلوا ډک ورووړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم یې پرې هدیه کېښود ، نو علي رضي الله عنه سخت په غوصه شو. ویې ویل: دغه حلوا مې داسې بده راغله لکه مار چې په کې لاړې یا زهر اچولي وي. ویلي یې دي، چې پوښتنه مې ترې وکړه: دا صله ده که زکات یا د خدای تعالی د رضا لپاره؟ وویل: دا هدیه ده. ما ورته وویل: ته غواړې، چې ما د خدای تعالی له دین واړوې؟ زما دې په خدای لوړه وي که اووه اقلیمه او هر هغه څه، چې اسمانونو لاندې دي ما ته راکړې، چې له خدای جل جلاله نافرماني وکړم او د وربشې پوټکی د مېږي له خولې په ناروا کش کړم، هیڅکله به داسې ونه کړم![1]

اسلام د دې لپاره، چې قاضي په پټه به رشوت لتاړ نه شي، داسې لارښوونه یې کړې ده، چې قاضي ته نه ښايي بازار ته لاړ شي څو، چې د ده په تللو، چې له کوم دکان څه شی اخلي د هغه په نرخونو اثر ونه لوېږي او په قضاوت کې د تحفیف کوونکي طرفداري ونه کړي.

رشوت لکه، چې د مخه هم اشاره ورته وشوه د اجتماعي عدالت مهمه مانع او د ټولنې مهلکه ناروغي ده، چې د هغه په توګه رشوت چلوونکی منحرف افراد د خپلو چټلو مقاصدو سرته رسولو لپاره په حرام رشوت قانون ماتوي. څرنګه، چې په پټه اجراء کېږي له دې کبله تر اوږدې مودې پورې سرته رسېږي او د ډېرو مفاسدو لکه ظلم، بې عدالتي، دروغ، چل، ټګي، غلا او نورو ګناهو موجب کېږي؛ نو د رشوت دا ډول بدو تاثیرونو اچولو د مخنیوي او له

---

۱. نهج البلاغه خطبه ۲۲۴ ترجمهٔ دکتور سید جعفر سهیدی، د عدالت له مجملې د لسم کال ۴۹ ګڼه لړم ۱۳۸۷ د فضل لله احسان له دري لیکنې لنډیز او ژباړه.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه وړلو لپاره هر عاقل په تعمق د ایندې سنجولو او له رشوت د بچې او روغې ټولنې جوړولو په مقصد د ې خطرناکې ناروغۍ مخنیوي ته په نصیحت، تبلیغ، مسؤلو مقامو ته په اطلاع ورکولو، نیولو او داسې نورو وسایلو ورودانګې مبارزه او مجادله ورسره وکړي څو د رشوت په امحا عدالت او قانون مندي په ټولنه کې ببرته ریښې وزغلوي، وده وکړي او له رشوت خالي روغه ټولنه وروزل شي.

## د رشوت د ګناه څېړنه:

د رشوت او د هغه له مفاسدو ګناه له دوه اړخو د څېړنې وړ ده. یو اړخ یې شخصي او فردي دی، چې مرتکب یې د خدای تعالی د غوصې لعنت او عضب مورد ګرځي (العیاذ بالله) لکه، چې په اسلامي معتبرو منابعو کې راغلي دي:

"لعنة الله علی الراشي و المرتشي" یعنې رشوت ورکوونکی او رشوت اخیستونکی د خدای تعالی له رحمت څخه لیرې دي او "لعن رسول الله الراشی و المرتشی" یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم رشوت ورکوونکي او رشوت اخیستونکي باندې لعنت کړی دی.

او "الراشی والمرتشی و الماشی بینهما ملعونون" یعنې رشوت ورکوونکی او رشوت اخیستونکی او هغه څوک، چې د دوی ترمنځ ځي د خدای تعالی له رحمت لیرې دي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په نړۍ (دنیا) کې به هم د رشوت له وضعي آثارو په امن کې نه وي ځکه، چې زمونږ د مسلمانانو په گروهه (عقیده) د حرام مال په خوړلو، چې د انسان په وینې، غوښې او پوستکي کې گډېږي د انسان په روحي او معنوي تربیه او روزنه بد اثر کوي او د انسانیت له مسیر د انحراف موجب گرځي.
رشوت د متوالي نسلونو په روزنه او تربیه د نامطلوبې وضع اثر کوي، داسې، چې د هر انسان نطفه له حرام مال جوړه وي، غوښه، پوستکی او هډوکی یې له حرامو رشد کوي او هغه وجود، چې ثمره یې حرام مال وي هغه معنویت او اخلاقو ته هیڅ تمایل نه لري.
دا ډول انسان د مسخ شوي غوندې وي، چې له خپل طبعي او فطري مسیر وتلی وي او په خلاف د طبعي مسیر یې گام پورته کړی وي. د دوی په برخه کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي:
"کل لحم نبت عن الحرام فالنار اولی به" یعنې هره غوښه، چې له حرامو ټوکېدلې وي اور ورته ډېر مناسب دی او فرمایلي یې دي:
"ان اخوف ما اخاف علی امتی من بعدی هذه المکاسب الحرام و اشهوه الخفیه و الربا" د رشوت د گناه د مفاسدو لومړی اړخ، چې انفرادي لوری په کې څېړل کېده په همدې ځای پای ته ورسید.
اوس د رشوت د گناه د مفاسدو په دویم اړخ، چې اجتماعي برخه احتوا کوي د هغې په څېړلو پیل کوو. د رشوت د گناه او مفاسدو د دې اړخ څېړنه په مراتبو زیات اهمیت لري او د رشوت مسئلې ته زیاته توجه له همدې اړخه ده، ځکه چې رشوت د ټولنیز نظام روغ اقتصادي بنیادونه او ټینگ پیوندونه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



سستوي، د بدو او ناوړو اړیکو د خورولو او د ذلت، خوارۍ، فریب او ظلم رواجولو موجب کیږي.

## د رشوت مخنیوی :

د رشوت د مخنیوي لومړنی عامل د خپلې صفا مسلمانۍ، تقوا، حیا او شرم دی. هر مسلمان په هره دنده کې، چې وي او خپله ټیکه ټینګه عقیده او تقوی ولري، د پردي مال اخیستل یا ترې کومه استفاده کول حرام او د اور سکروټې ګڼي، د رشوت ورکوونکي مجبورول په رشوت ورکولو او د هغه له ازار او ښېراوو ډاریږي، په ټولنه کې د رشو خور نوم په یادولو شرمیږي، له خپلې علمي، اسلامي دندې لکه قضا، معلمي، څارنوالي، خطابت ... یا له خپلې ښې لکه پګړۍ، چپن، ږیره یا د خپلې کورنۍ له درانه نوم لکه سید، پلانی ځی، پلاني خېل، پلانی زوی، پلاني پلار حیا ورځي او له ټولو مخکې له خپل خدای جل جلاله سره ژمنه کوي، چې ته رازق یې، ته څوک بې روزۍ ورکولو نه پرېږدی ما به هم نه وږې کړې او نه تږې او نه به مې حیران او محتاج کړې، بلکې له رشوت ژغورنې او تقوی به مې لا د شتمنۍ چاره او سبب وکړې، او که هیڅ رانه کړې بیا هم چې رشوت دې حرام کړی که هغه وخورم د سزا وړ ګرځم او ستا د سزا په دنیا او آخرت کې هیڅ توان نه لرم او هیڅوک یې توان نه شي لرلې؛ نو که روزۍ کې مې کمی راشي، ولږه به راشي او هغه ولږه تېرول د رشوت له سزا راکولو په مراتبو ښه دي، نو چې وږې شم دا ښه دی له دې، چې دنیا کې د رشوت خور نوم ولرم یا ونیول شم یا بندي یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرد یا توبیخ شم او په آخرت ستا لوی ذات ته سر ټیټې او په جزا محکوم او په عذابو اخته شم (استعفرالله). زما څېښتنه ته مو له ناروا کړنو وساته د دنیا او آخرت له عذابو ژغورنه را په برخه کړه. رشوت عموماً دولتي چارو کې منځته راځي د بې شرم او بې حیا، بې تقوا او خدای تعالی نه د نه وېرېدونکو لپاره د دولت له خوا څو کړنې په کار دي.

یو دا، چې د دولت د کم رتبه کارمند او مزدورکار د میاشتنیو اړتیاوو لګښت وسنجول شي، چې په سبا ناری، غرمه ناری او ماښامنۍ یې څومره پیسې لګیږي. د جامو، ترانسپورت، اوبو، برېښنا، سون، د کور کرایه او کور یې څومره کیږي. د بسترې، ناروغیو د تداوي، د ماشومانو د تعلیم او داسې نورو اړتیاو یې څومره کیږي. د هغو مجموعه د معاش په نوم ورکړې او له هغوی د پورته رتبو او درجو خاوندانو ته یې په تناسب معاش لوړ ورته وټاکي.

بل دا، چې د رشوت اخیستونکو لپاره داسې قانون جوړ شي، چې نه رشوت ورکوونکی په رشوت ورکولو وتوانیږي او نه رشوت اخیستونکی هغه واخیستلی شی او نه څوک په کې د واسطه کېدلو توان ولري. بل دا، چې د رشوت د مخنیوي د قانون د تطبیق څارنه وشي.

د اسلام مقدس دین کې هغه ګناهونه، چې ټولنیز اړخونه لري او مهلک ضررونه یې ټولنې ته رسېږي تر هغو ګناهو، چې فردي جنبه لري شدید او سخت نهي او منع شوي دي؛ ځکه، چې په دا ډول ګناهو کولو د ټولنې مصالح خطر کې ولویږي او د خلکو د مذهبي روحیه د اهانت له نظره خدای

www.meliahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی سره د کفر غوندې ښودل شوې ده. "و اما الرشا فی الحکم فهوالکفر باالله العظیم" [۱] یعنې رشوت له لوی څښتن تعالی سره د کفر په حکم کې دی.

دغه الفاظ د رشوت د ګناه لپاره دي او راښیي، چې رشوت عامل عملاً خدای تعالی سره کفر کې اخته کیږي. دلته او داسې نورو ځایو کې له کفر مراد د ګناه شدت او غلظت دی، نه عقیدتي کفر، بلکې کفر ترې مراد دی. یعنې هغسې، چې عقیدتي کافر د اسلام احکامو ته پابندي نه لري رشوت اخیستونکی، چې اسلامي عقیده هم لري، حرمت د رشوت، چې یو اسلامي حکم دی نادیده نیسي، څرنګه، چې د رشوت کلمه د لفظ د دلالت له نظره پراخه معنا لري نو د هغې په مورد کې اختلاف دی. له دې امله ضرور ده، چې معنا یې بیان شي، چې دې برخه کې مختلفو پوښتنو ته ځواب ورکړ شي. نو دا بیان د رشوت د لغوي او اصطلاحي معنا عنوانو لاندې مطالعه او هلته مراجعه وکړئ.

## د رشوت خور سزا :

د رشوت اثبات او سزا:

د رشوت سزا له څو لارو کیږي :

۱ـ د دوه شاهدانو په توګه، چې دوی په خپل شهادت کې صادق وي، که د قضا په مجلس کې د رشوت شاهدي ورباندې ووایي رشوت پرې ثابتیږي.

۱. شیخ حر عامل، و سای الشیعه ج ۱ ص ۹۲ (مجلهٔ ماه نامه عدالت لسم کال شماره مسلسل ۲۹ / عقرب / ۱۳۸۱، د فضل الله احسان لیکنه.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲_ د یوه نر او دوه ښځو په شهادت یا د یوه نر د مدعي له قسم سره رشوت ثابتېږي؛ ځکه، چې د رشوت جرم سربېره پر دې، چې معنوي او بدني جرم دی مالي جرم هم دی نو د اثبات روش یې همدا دی.

۳_ په خپله د رشوت اخیستونکي اقرار، چې د رشوت په اخیستلو اقرار وکړي.

۴_ قرائن، چې د قاضي د رشوت په اخیستلو دلالت کوي، لکه د بې مېړه ښځې حامله کېدل، چې د دې په زنا کولو قرینه ده یا لکه له خولې د شرابو د بوي راتلل، چې قرینه یې د شرابي په شراب خوړلو قرینه ده.

د رشوت خور سزا :

د رشوت سزا حدودو کې نشته، بلکې تعزیراً اجرا کیږي، چې په شرع کې خاصه اندازه نه لري، بلکې د سزا اندازه یې د کمیت او کیفیت له پلوه د قاضي رای ته مفوضه ده، چې په عقلي او نقلي معیارونو یې د زمان او مکان په نظر کې نیولو سره په رشوت متهمو اشخاصو ته ټاکي او څرنګه، چې تعزیر مالي او بدني دواړه اړخونه لري له دې امله د رشوت خور سزا په لاندې ډول ورکول کیږي.

۱_ جېل.

۲_ د تاوان ورکول.

۳_ د هغو مالو مصادره، چې په رشوت کې یې اخیستی دی.

۴_ له وظیفې عزل.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵**_ په درو وهل.

**۶**_ له مالي او سياسي... حقوقو محرومېدل.

**۷**_ د هر وخت او هر مکان له شرعي او اصولي قانون سره سم مجازات.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه

۱. القرآن الکریم.
۲. ابی بکر احمد بن الحسین بن علی البیهقی (۴۵۸هـ) السنن الکبری طبع بیروت کال ۱۴۲۴هـ.ق ۲۰۰۲م.
۳. جارالله محمود بن عمر الزمحشری (الفائق فی غریب الحدیث) دریم چاپ دارالفکر کال ۱۳۹۹هـ - ۱۹۷۹م)
۴. ده خدا علی اکبر لغت نامه ده خدا ج ۱۲۰۹/۸)
۵. ابن منظور ابی الفضل جمال الدین لسان العرب مادهٔ / شاج ۴.
۶. سرخی ابی بکر محمد بن احمد بن ابی سهل شمس الآئمه (المبسوط) طبع کراچی کال ۱۴۰۷ هـ ق – ۱۹۸۷م)
۷. سید علی ریاض المسائل فی بیان الاحکام بالدلائل انتشارات ال بیت.
۸. صفی پور منتهی الارب ج ۱/ ۴۵۱ د عدالت میاشتنۍ مجله لسم کال شماره (۷۱) کال ۱۳۸۷م.
۹. طرحی فخر الدین – مجمع البحرین ج ۱ / ۱۸۴.
۱۰. ابی الفرج عبدالرحمن بن علی بن الجوزی (غریب الحدیث) طبع بیروت کال ۱۴۰۵هـ.ق ۱۹۸۵م.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱. ابی محمد عبدالله بن احمد بن محمد بن قدامه المقدسی (م۵۴۱-۲۲۰هـ) المغنی طبع قاهره کال ۱۴۰۲ هـ - ۱۹۸۲م.
۱۲. العسقلانی ابن حجر (۷۷۲-۷۵۲) فتح الباری شرح صحیح البخاری) طبع دارالفکر کال یې معلوم نه دی. د چاپ کال ۱۹۲۵م.
۱۳. ابی محمد علی بن احمد بن سعید بن حزم (م ۴۵۲هـ) د المحلی، ج ۱۵۷/۹ طبع بیروت کال معلوم نه دی.
۱۴. الفروز ابادی قاموس المحیط.
۱۵. قمی شیخ عباس سفینة البحار ج ۳۲۰/۳.
۱۶. محقق کرکی علی بن الحسین جامع المقاصد فی شرح القواعد انتشارات البیت ج ۴ / ۲۵.
۱۷. المتقی علی بن حسام الدین الهندی (م ۹۷۵هـ) کنز العمال فی سنن الاقوال و الافعال پنځمه طبع بیروت کال ۱۴۰۵هـ.ق – ۱۹۸۵م)
۱۸. شیخ محمد بن الحسن مسائل الشریعه ترجمه و مسائل الشیعه اسلام آباد کال ۱۴۲۱هـ.ق
۱۹. محمد بن علی شوکانی (نیل الاوطار من حدیث سید الخیار بیروت ج ۲۱/۱.
۲۰. المدائنی عبدالحمید بن ابی الحدید (شرح نهج البلاغه) طبع دارالاحیاء کتب العربیه کال ۱۳۵۸هـ.ق -۱۹۲۷م)
۲۱. موسوی سید عبدالکریم ارذلیلی فقه القضاء طبع او کال یې معلوم نه دی.
۲۲. مهدی تراقی جامع السعادات ج ۱۲۵/۲-۱۲۲.
۲۳. نجفی اصفهانی محمد حسن – جواهر الکلام – ج ۴ / ۵۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښاد نور تاليفات

۱. د يوولسم ټولګي تفسير د ليسو لپاره، چاپ د پوهنې وزارت.
۲. د نهم ټولګي تفسير د ليسو لپاره، چاپ د پوهنې وزارت.
۳. خير الکلام، د لس زره ټوکه چاپ امر.
۴. لنډ بيان د سورتونو د قرآن.
۵. قـرآن پوهنـه د خوسـت شـيخ زائـد او د ننګرهار پوهتونونو چاپ.
۶. د قرآن اعجاز.
۷. لغات القرآن.
۸. نبوت او سيرت د افغان پوهنتون چاپ.
۹. د اصول حديث منظومه.
۱۰. د غزواتو احاديث له بخاري نه.
۱۱. ټاکلي احاديث.
۱۲. د قرآن رڼا.
۱۳. د قرائت امامان.
۱۴. ترجمه، تفسير او تاويل.
۱۵. جبـار خېـل تفسـير ناسـخ او منسـوخ، د پوهنې مطبعې چاپ.
۱۶. توضـيح الميـراث، د سـترې محکمـې چاپ.
۱۷. ميراث نامه، د سترې محکمې چاپ
۱۸. روزه، د حج او اوقافو وزارت چاپ.
۱۹. "د ښـځو د حقوقـو د مسـاوات څېړنـه" د خوست د مطبعې چاپ.
۲۰. حج نامه.
۲۱. حج پوهنه.
۲۲. "د اسلام پنځه بناء" د اسلامي علومـو د پوهنتون د څېړنو د مرکز چاپ.
۲۳. د حضرت ياد ، د پوهنې مطبعې چاپ.
۲۴. جمال نامه، د کابل پوهنتون لخوا چاپ.
۲۵. ښاد ژوند.
۲۶. د حصارک سوغات.
۲۷. ښکلي اشعار.
۲۸. د حصارک فلکلور لومړی ټوک، چاپ.
۲۹. د حصارک فلکلور دوه يم ټوک، چاپ.
۳۰. د اسلام تاريخ لومړی برخه ۱۳ ټولګيـو مدرسو ته چاپ.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۱. د اسلام تاریخ دوه یمه برخه ۱۴ ټولګیو مدرسو لپاره.
۳۲. پښتو ادبیات د مدرسو ۱۳ ټولګیو ته چاپ.
۳۳. پښتو ادبیات د مدرسو ۱۴ ټولګیو ته چاپ.
۳۴. دري ادبیات د مدرسو ۱۳ ټولګیو لپاره.
۳۵. دري ادبیات د مدرسو ۱۴ ټولګیو لپاره.
۳۶. عقیده پوهنه.
۳۷. خدای پېژاندنه.
۳۸. اسلامي فرقې.
۳۹. شرک پېژندنه.
۴۰. تجوید پوهنه (د سید جمال الدین پوهنتون ته)
۴۱. یون لیک (د پېښور ایبټ آباد ته)
۴۲. خپلواکي پوهنه د پېښور چاپ.
۴۳. فلسفي درسي بنسټونه، ورځ مجله کې چاپ.
۴۴. جنرال وزیر محمد ګل خان، ورځ مجله کې چاپ.
۴۵. بناد بیان.
۴۶. پاینبغ.
۴۷. خطبه.
۴۸. د تمبکو زهر.
۴۹. روغ صورت.
۵۰. صحت او عبادت.
۵۱. د ښځې زړه سواندی حال
۵۲. کوچی او ګلالی.
۵۳. لنډی
۵۴. ادبي فنون.
۵۵. عربي لنډی، د پېښور اکاډمی پښتو مجلې چاپ
۵۶. ابتکار.
۵۷. د سید جمال الدین ژوند لیک.
۵۸. صلح.
۵۹. مفقود.
۶۰. مرجع الطلاب شرح ملحة الاعراب.
۶۱. د نصاب الاحتساب خېړنه.
۶۲. تمسک المحتسب
۶۳. الشعر مقدم ام النثر.
۶۴. بحر القصیر فی العروز.
۶۵. پښتو مثنوي المعنوي.
۶۶. البحث.
۶۷. د اطفالو طب، ژباړه.
۶۸. د رسولانو فضیلت، په انګلیسي ژباړه.
۶۹. اسلامي سیاست.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۰. مجلة الاحكام بيوع.
۷۱. تفسير سورة النور.
۷۲. منجد القرآن پښتو عربي.
۷۳. منجد القرآن دري عربي.
۷۴. اسانه پښتو.
۷۵. د نزول سببونه.
۷۶. مالي عبادت.
۷۷. استخاره.
۷۸. اسلامي اقتصاد.
۷۹. د اسلامي تشريع تاريخ.
۸۰. اسلامي جماعتونه.
۸۱. اسلامي طب.
۸۲. اللغة العربيه.
۸۳. پښتو قرئة الرشديه.
۸۴. الشفاء (دمول)
۸۵. لمونځ په ترجمه.
۸۶. په لمانځه کې قرائت په ناظره.
۸۷. شعر علی کرم الله وجهه.
۸۸. شعر سيد جمال الدين.
۸۹. د فقه ۹۹ قاعدې.
۹۰. سوريه.
۹۱. اداري فساد.
۹۲. رشوت او قضاوت د ساپي د مرکز انټرنيټ خپرونه
۹۳. انوار القرآن و اسرار الفرقان من سورة النساء الی آخر و الناس.
۹۴. نوی کال.
۹۵. ښاد عقايد (د سيد جمال الدين پوهنتون لپاره)
۹۶. جعفر صادق.
۹۷. د ابو ريحان البيروني د تاليفاتو د يوې برخې بديعي صنعتونه.
۹۸. پښتو توري.
۹۹. نبوي طب.
۱۰۰. تاريخ اسلام بخش اول د ديني مدرسو ۱۳ ټولګيو ته د پوهنې مطبعې چاپ.
۱۰۱. تاريخ اسلام بخش دوم.
۱۰۲. د عقايد نسفي د شرح پښتو ژباړه.
۱۰۳. لومړنی شعر.
۱۰۴. د پښتنو نسب.
۱۰۵. دعا.
۱۰۶. ليک ليکنې (پښتو انشاء) د ساپي مرکز کې دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



www.melitahrik.com
0777 400 116

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**